# بهرنیۍ خندنیۍ ټوکې

# ٢

محمودنظري

پوهاند دوکتور م.ا.زیار
اکسفورډ ، 5-2-08

## دا چاڼلې او ژباړلې
## کورنۍ او بهرنۍ ټوکې

دا د پوهنمل محمود نظري د کیسو ، طنزو او ټوکو د لړۍ اوومه د ((بهرنۍ خندنۍ ټوکې)) د لړۍ دویمه ټولګه ده چې له خپل لوړ هنري ځوب و خورمنځ (ذوق و سلیقې) سره سم یې پکې د مخنۍ هغې غوندې د خپلې ټولنې تر څنګ له ایرانه تر امریکا د ټوکو یو غورچاڼ رانغښتی دی. د ((خندنۍ)) ستاینوم ور سرباري کول یې بیا رښتیا سرباري ایسي، ځکه ټوکه بې له هغې خندنۍ ده او که خندا و نه لري، هغه ټوکه نه، چې بوکه ده !
هسې خویې هر مینه وال وار له واره د پوهنتوني ستاینوم په لیدو سوچ کوي چې ترې د مشر و رور

واحد نظري په څېر به ده هم د کابل پوهنتون د ښکليو هنرونو شاګردي او استازي تر شا پرېښې وي. مګر کله يې چې د ټولګې پر دوتنه لنډ ژوند ليک ولولي او له کرنې پوهنځي سره يې تړاوه په غړولو سترګو وګوري، نور هم پسې هک پک پاتې شي- کرنه او کرنپوهنه چېرې او ادب و هنر چېرې !

خو ښايي، دی ورته همدا دک و دليل ولري چې پوهنه په هاندو هڅه هرڅوک راخپلولای شي او ليکنې څېړنې پکې پر مخ وړلای شي، هنري وړتيا او هنري کارونه د خال خال وګړو په برخه کېدای شي.

په تېره د شاته پرېښې هېواد په اوسني بد اکر و انکړ کې چې د پخواني مهال ولسي جرګې د يوه استازي په خبره ((نه زراعتي، نه صنعتي، بلکې بېطرفه)) پاتې کړشوی، وير ژړليو استوګنو ته يې لږ تر لږه يوه ترخه خوله خنداهم غنيمت ده، پاتې لا د ژوند يو نيم پيغام او زده کړه !

ګران نظري په دې غورچاڼ کې تر هرڅه له مخه د خپلو پښتنو مينه والو خورمنځ په پام کې نيولی

دی، په تېره یې په ژباړلیو ټوکو کې هم هماغه بېلګې ټیکاو لري چې په ټوله مانا ترې همغومره خوند اخېستل کېږي، لکه څومره چې ترې د آرې زېږندویې ټولنې وګړو اخېستی او اخلي یې. د بېلګې په توګه په عیسایي ملایانو یا راهبانو پورې یو شمېر تړلې ټوکې زموږ د ملایانو له هغوسره یو ډول اړخ لګولای شي. ښایي ښځینه هغه یې یوازې زموږ لوید یځ مېشتو هېواد والو ته په زړه پورې وي.

مایې چې د لیکلې او ژباړلې پښتو د کرونې په ترڅ کې له فرهنګي پلوه د یوې نیمې بېلګې د راخپلونې (اداپټ) اړتیا نګېرلې، له ښاغلي نظري سره مې پکې په ګډه وړند ادلون بدلون راوستی او یا خو ده پخپله ګرد سره له ټولګې کښلې دي. ډېرې بربنډې نوربېزې(سېکسي)، په تېره تېره کورنۍ هغه یې وار له مخه چلیپا کړې، څکه نه غواړي په هېواد کې یې د ګروه پلټنې(نهی عن المنکر) له انکیر منکر سره پر ژوندونې لاس و ګرېوان شي. که نه، په پښتنې-

افغاني ټولنه کې يې د ډېرو لوڅو او توندو تېزو ببلګو ځرک لګېدای شي چې د ښاغلي پير محمد باوري څو ټولګې يې ځرګندويي کوي.دغه سيمه وال سيال يا پېښناوو ته يې چې څه پر لاس ورغلې، بې لاسوهنې يې په همغه ساده او ګړنۍ پښتو چاپ ته سپارلې، بې له دې چې پر ژوندونې له بنستپال و ترهګره و ترهې او پر مړونې له نکيرو منکره !
هسې خو به په نړۍ کې داسې دود يا له ټولنه پيدا نه شي چې دغه ور ټوکې ټکالې پکې دود و نه لري. د چا خبره د ټوکو مالګه او مساله هم زياتره نوړېزوالی دی. خو هماغه متل دی چې په ځنګله هرڅوک ډارېږي، مګر څوک حال وايي او څوک نه !

هرګوره، د ليکلارې او په ځانګړي ډول د ژبارې د سمون په برخه کې ماته اړينه وبرېښېده چې يو څه کړاو ورسره و ګالم. زموږ دوديز ښوونيز سېستم هم داسې نه وو چې د زده کړو په بهير کې کوم کره پښتو

ژبلوست يا ژبښود چا ور ښوولی او ده زده کړی اوسي !

داسې هم نه ده چې ګوندې دی دې د نورو تنګلیدو سیمه والو غوندې پرخپل کندهاری ګړدود ټینګ و ترینګ پاتې وي او هماغه یوه ګړدودي لېله او لیکلار سر تر پایه پر کار واچوي، بلکې له ټولیزې کره پښتو سره یې اخښي را اخښي، لکه: سو- شو، وخوړئ- وخور، ښځه تللي ول- ښځې سترې دي... تر ټولو سپیناویو او سماویو وروسته په همداسې یوه ښکلې، کوټلې، کره پښتو کې هڅاندو نوښتګر لیکوال دوست ته د لا ډېرو پخو او پرله غښتو ادبي ژباړنو او پنځونو غوښتو نکی یم.

په ګرده پښتني- افغاني مينه او لوريينه
د ګردو خواخوږی زيار

سریزه:

دا چې ټوکې څه شی دي او د څه لپاره جوړې شوې ، باید وویل شي چې د ټوکو تاریخ تر لطیفو او حکایتو پورې رسېږي چې د پند او نصېحت ادبیات ول.
لطیفو خپل ځانګړي شخصیتونه، لکه بهلول دانااو ملا نصرالدین... درلودل چې ډیر پوه او نوماند خلک وه د هغو د کړو وړو یادونه به د پند لپاره کېده او د لطیفې په ډول به لیکل کېدله. لطیفه د روح د خوشالۍ په پار لیکل کېده او بیا ترهرڅه مخکې د دې لپاره چې خلک سوچ وکړي، د هغو پر کارونو اوکړو وړو باندې بې له سوچ عمل ونه کړي، ویل کېدې. دا دواړه شخصیتونه کازیان هم وه او خلکو هغو په حکمت پېژندل ،نه دا ډول چې اوس

مشهور دي. پر دې سربېره لطيفې د پند لپاره وې او اخلاقي پيغام يې درلود چې د ښه پوهاوي لپاره ورسره د طنز مالګه هم ګډه شوې وه.
تر عثمانی جګړو وروسته د اړپېچونو له لامله د لطيفو استازګرۍ يا رسالت خپله ليار کړه کړه ،له حکمته راووتې او د دښمن د خنديو ، ملنډو ، غندنو او نيوکو وسيله شوه. نو دا لطيفه ،حکايت او طنز پر ننني ټوکه ، غندنه او بدويينه و اوښتل او له بهرنيانو او نيواکګرو سره په جګړو کې د انګروزو په توګه په ناسيده ډول د ټوکو ټکالو بازار ته مخه وکړه.
په جنګو کې به د ساړه جنګ لپاره کاريدې ،د بيلګې په توګه د اذربايجان خلکو له انګريزسره ژبنی غلی جنګ او رواني سوړ جنګ د ټوکو په جوړولو او ويلو پيل کړ. په دې توګه يې نيواکګر اوبلځاييان سپکه سپانده کړل . د ساري په توګه انګريز ته يې د خره ستاينوم ورکړی وو.

دنړۍ نورو خلکو ورته هم بې له دې چې دغو سپکو سپورو ته یې پام شوی وي او د ګاونډۍ اړیکې یې په پام کې نیولي وي، د خندا او ساتیرۍ په پار لمن هم وهله او هغوی هم د ټوکو د جوړولو او خپرولو لامل شول او داسې ټوکې ټکالې را منځته شوې چې نه یې کوم پند درلود او نه کومه مانا او نه د کومې زده کړې پوهې لوست !

دا ټوکې دځو شېبو خندا او د غم هیرولو لپاره هسې لکه نشه یې توکي کارول کېدې او په پای کې یې د لطیفو ځای ونیو او ملانصرین پر تورکې((خواجه نصرالدین)) .... بدل شو.

سکاټلنډیان او خسیسي....؟

په دې دویمه ټولګه کې هم لکه لومړۍ ټولګه هر ډول ټوکې، اوتې بوتې( هزل) ،غندنې( هجو) او لطیفې او حکایتونه را اخېستل شوي دي چې ټوله یې بهرنۍ ټوکې دي چې له زرونو ټوکو نه غورچاڼ شوی خندنۍ ټوکې دي نو هیله ده لوستنه یې ستاسو پر شونډو یوه خوږه موسکا خپره کاندې.

ځینې ټوکې ښایي توهیني خوند ولري، ولې ما تر
وسې وسې هماغه سوچه ټوکې لیکلې دي. زما
موخه یوازې د هغو راټولونه او ستا سو خندونه ده،
نه کوم چا ، توکم یا هېواد ته سپکاوی. نو که دا سې
کوم څه پکې چا ونګېرل ،په خپله لویی به ما وبښي.

په درناوي
پوهنمل محمود نظري
لندن۲۰۰۸

# دماشومتوب نړۍ

ویګړا ګولۍ د څه لپاره دي؟
د نس ناستې لپاره؟
څرنګه؟
زما پلار زما مورته د شپې ویل:
ویګړا ګولۍ دې وخوره چې نس دې کلک کړي.
*******

ولې د الوتکو کارکوونکي تل ښکلې نجونې وي؟
- چې الوتکه ژر په هوا شي.
*******

د یوه ماشوم پلار مړ شو بل ورته وویل:
دا دې اخیر غم وي !
بل ورته وویل:
خدای دي وبښي !
بل ورته وویل:
وبښه چې پلار دې مړ شو؟
*******

ښوونکی :د دغه ژوي(حیوان) پښه وګوره او نوم یې
وو ایه !
شاګرد:
- نه پوهېږم !
ښوونکی: نوم دې وو ایه چې یو غټ صفر درکړم !
زده کوونکي خپله پښه وروښووله:
- زما نوم پیدا کړه !

*******

کتاب دې ووایه؟
هو ، پای یې ډېر خوندور وو !
پیل یې څرنګه وو ؟
هغه مې لا نه دی لوستی.
*******

مورې ! پلار مې چې ته نه یې وېرېږی او د شپې د ګاونډی ښځې کره ویدېږي.
*******

زما کمپیوټر خراب دی.
- ولي ؟
- د چایو ایښوولو ځای یې نه را وځي.
*******

یو هلک یو بوټ په پښه رهي وو یوې ښځې ترې وپوښتل:

-یو بوټ دې ورک کړی دی؟
هغه ورته وویل:
-نه، یو مې پیدا کړی دی.
*******

درې نومونه واخله چې لومړی توری یې د (خ )توری وی:
خپله زه ،خور دې، خدای ښنلی پلار دې.
*******

- ښوونکی: ولې دې پلار درسره په لیکدود کې مرسته نه کوي؟
-هغه له تا نه خپه دی.
- ولې؟
- پرون دې هغه ته صفر ورکړی وو.
*******

د یوې ښځې باد پرې شو او خپل زوی یې په څپېړه وواهه او ورته یې وویل:

بیا بې ادبي ونه کړې او راځه بازار ته ولاړ شو !
هغه ورته وویل:
بیا که دې باد پرې شو ، بیا به ما نه وهې !
*******

یو هلک یو سړی په تېرکې په لغته وواهه او بیا یې
ښښنه ترې وغوښته. هغه سړي هلک ته دوې روپۍ
ورکړې چې دا دې ښه عادت زده کړی.
هلک بیا هغه په لغته وواهه.
*******

په ۲۰۲۰ کې به زوی پلار ته وایي:
- زه څرنګه دنیا ته راغلم؟
- ته مې له کمپیوټره ډاونلوډ کړې !
*******

یو هلک د تیلود ټانګ څنګ ته ولاړ او سګریټ یې
څکوه.
یوه سړي ورته وویل:

-دلته د تیلود ټانک تر مخی سګریټ مه څکوه !
- ځه بابا ، زه لا د خپل پلار ترمخې سګریټ څکوم.

*******

د یوه چا زوی پیدا شو او میرمن یې مړه شوه هغه دهېچا شودې نه رودلې په پای کې یې د یوې تورې ښځې شودې ورودلې.

پلار یې زوی ته وویل:

ښه تا ککو لرونکې شودې غوښتلې !

*******

یو سړی د خپل یو اشنا کورته تللی وو هلته یې د هغه له څلور کلن زوی نه وپوښتل:

-هلک یې که نجلۍ ؟

هغه ور ته پرتوګ لاندې ښوی کړ.

*******

پلاره ! کېدای شي، یوه پیانو راته رانیسی !

-یا بیا به موږ او ګاونډیان خوب ته نه پرېږدې !

-لاس درکوم ، هرکله چې تاسو ګرد ویده شئ، بیا یې ږغوم.

*******

زویه ! د ګاونډي له زویه چې په لومړي ټولګي کې دی، زده کړه !

-پلاره !ته چې د هېواد مشر هم منګی یې، ولې یې له هغه څخه نه زده کوې !

*******

یوه کوشنۍ نجلۍ له مور و پلار سره په یوه مېلمستیا کې ناسته وه، د محفل په سر کې مېلمنو هغې ته وویل:
ته دعا وکه !
- دعا څه شی ده ؟
مور یې ورته وویل :
هغه ډول چې دې پلار تر غرمې مخکې وویل، ووایه !
- هو خدایه !...
ورې نجلۍ وویل:
هو په یاد مې شوه:
- اوه خدایه ، ولې مور دا ستومانوونکي خلک ماښامنۍ ته مېلمانه کړه !
*******

یوامر د خپل یوه کارمندکره تیلفون وکړ، د هغه زوی د تیلفون غوږۍ پورته کړه.
هغه ترې وپوښتل :

پلار دې شته ؟

-هو ،

- زه له هغه سره خبرې کولای شم ؟

- نه.

هغه ورته وویل:

- مور دې شته؟

- هو.

- له هغې سره خبرې کولای شم ؟

- نه.

- بل څوک هلته شته؟

- هو پولیس !

په دې وخت کې د چورلکې ږغ شو ، هغه بیا وپوښتل:

-دا شور ما شور د څه شی دی ؟

- د چورلکې.

- هغه څه کوی؟

- هغه ټول ما ته ګوري.

*******

یو هلک په کلیسا کې شوخي کوله، پلار یې هغه له لاسه ونیو او بهر ته یې کښه، هلک ناري کړې:
ما ته دعاو کئ !

*******

یوې کوشنۍ نجلۍ ته یوه وویل:
مخ دې پاک دی خو لاسونه دې خیرن دي، دا ولې ؟
-زما مخ هغې ومینځه.

*******

زویه ورشه ،ازموینپاڼه دې راوړه ؟
-هغه کنګل شوې ده پربخارۍ مې کېښووه، ځکه ټولې نومرې یې صفر وې.

*******

یو سړی پر لاره تېرېده، یوه هلک ورته وویل:
کاکا دا دکور زنګ وواهه !
هغه چې زنګ وواهه
ماشوم ورته وویل:

- راځه چې اوس تښتو !

*******

يو شوخ هلک د ښوونکي په ځواب کې چې ملاوستنی(کمربند ) څه شی دی، وويل:
هغه يو کسري خط دی.
ښوونکي ورته وويل :
څه اپلتې وايې
هغه ورته وويل:
کټ مټ لکه کسري خط چې صورت له مخرج نه جلا کوي.

*******

يو ښوونکي دوه چنجيان راوړه، يو يې په اوبو کې واچوه او بل په وغوړيد اوبل يې په ويسکې کې واچوه او مړ شو. بيا يې شاګردان وپوښتل:
ددې کار پايله څه ده ؟
يوه وويل :
که ويسکې وڅښو ، نو د نس چينجان مو وژني.

*******

ښوونکي يو شاګرد و پوښت:
که دا ايکۍ تېزابو ته واچوم ،ويلې کېږي؟
هغه ورته وويل:
- نه !
- ولې ؟
-ځکه که هغه ويلې کېدای، نو نه دې وراچوله !
*******

يو څلور کلن هلک ځانته ناست وو او نورو هلکانو ورسره لوبې نه کولې، مورېې هلکانوته وويل:
زما له زوی سره لوبې وکړئ !
او خپله کار ته ولاړه.
کله چې راغله بيا يې هم زوی ناست وو او نورو لوبې کولې. موريې ځنې وپوښتل:
هغوی درسره لوبې ونه کړې؟
هغه ورته وويل:

هغو د پولیسو مشر وتاکلم بیا یې دوې میاشتې رخصتي راکړه !

*******

افریقایان ډیر نېکمرغه دي.

څنګه؟

- زامن یې کوکو والاشودې خوري.

*******

وکیل اته کلن هلک ته وویل:

ته د ټولو پوښتنو ځواب شفاهي راکړه !

ستا نوم څه دی؟

- شفاهي.

د څو کلو یې ؟

- شفاهي.

ښوونکی دې خوښ دی؟

- شفاهي.

*******

حسن هره ورځ د کلیسا ور ټکاوه او منډه یې وهله.
یوه ورځ ورته کشیش پوټ شو چې هغه ور وټکاوه،
کشیش ژر دروازه پرانیسته.
حسن ورته وویل:
عیسی په کور کې دی؟
*******

یوه ماشوم توره ایکۍ تیلفون ته واچوله او په غوږې
کې یې ویل:
هلو افریقا !
*******

مور زوی ته للو للو ویل، زوی یې ورته وویل:
نور بس کړه، ماته خوب راځي !
*******

پلار زوی ته:
هر وخت چې ته یوه شوخي وکړې زما د سر یو تار
وېښته سپینېږي.

- ښه ! زه اوس پوه شوم چې ولې د نیکه و ښتان سپین دي.

*******

چې ترور دې راغله، سلام ورواچوه او پر مخ یې مچ کړه !

- نه زه هغه نه مچوم.

-ولې؟

پرون مې پلار هغه مچ کړه په څپېړه یې وواهه !

*******

پلاره ! زه غواړم دومره لوی شم چې هر کار مې زړه وغواړي ،هغه وکړم.

-زویه تر اوسه چا دومره ژوند نه دی کړی !

*******

پیانو دې زده ده؟

نه، زما یو بل ورور په لندن کې دی، د هغه هم نه زده.

*******

يو هلك په روغتون كې وزېږېد ، لاس يې موټی
نيولی وو او په موټي کې يې د بلاربۍ د مخنيوي
درمل وه.

*******

پلاره ! مورې ولې په بېړۍ کې نه ځو ؟
- لامبو واهه، دوې ګړۍ وروسته رسېږو !

*******

يوه هلک ته چې تل ببر وېښتان او په ځيري پتلانه
کې ګرځېد ، چا وپوښت:
ولې داسې ګرځې ؟
هغه ورته وويل :
که داسې ونه ګرځم بيا مې مور او پلار هر چېرې
بيا يې.

*******

يو هلک مورته وويل:
دا بيزو لکه ماري ترور داسې ده.

هغې ورته وويل:
کرار چې څوک يې وانه وري !
هغه ورته وويل:
بيزو نه دي اوريدلي !
*******

يوه چلوونکي خپل شاګرد د ګاډي شا ته واستاوه چې وګوري، څراغ کار کوي، که نه !
هغه ناري کړې:
کوي ،نه کوي ،کوي، نه کوي...
*******

ښوونکی( ۲+۴ )څو کيږي؟
هغه په ګوتو شمېرنه پيل کړه. ښوونکي ورته وويل لاسونه دې په جيب کې ننه باسه هغه ځواب ورکړ:
يوولس !
*******

هغه کوم ژوی دی چې موږ ته غوښه ، شودې مستې اوبوټونه راوړي.
- زما پلار !

*******

ولې د ې دخور و ښتان راکښل، بیا شیطان ختا ابستې؟
هو ، مګر په نس کې لغته زما خپل نوښت وو !

*******

زویه ته ولې یوازې د انا له لاسه درمل خورې ؟
ځکه د هغې لاس رېږدي !

*******

یو هلک له ملګري سره د هغه انا کره راغلی وو او هلته یې پلی، چې په غاب کې پرتې وې وخوړلې او د تګ په وخت کې یې د ملګري انا ته وویل:
له پلی، نه مو مننه !
هغې ورته وویل:

زما غانبونه ورک شوی دی، نو یوازې مې د پلیو چاکلیت زبېښلي او ښه شو، پلی یې تا وخوړلې !

*******

یو هلک د ګاډي په ازموینه کې بریالی شو او پلار یې ورته وویل:
که ته انجیل وو ایي او په کالج کې سرګنی( اول نمره ) شی او وېښتان دې جوړ کړې، زه نوی ګاډی درا خلم !
هغه انجیل وو ایه، او اول نمره هم شو ، خو د سر ویښتان یې لږ نه کړه. پلار یې ورته وویل:
ولې دې وېښتان نه دي کم کړي؟
هغه ورته وویل: د عیسی ،موسی او نوح وېښتان هم اوږده وه !
پلار یې وویل:
ځکه هغوی پلي ګرځېدل !

*******

له ماشوم نه یې وپوښتل:
مینه څه شی ده ؟

- د نرو ښځې تر مينځ بې ريفري لوځه غېږ نيول !
*******
له ماشوم نه يې وپوښتل:
شيطاني څه شی ده؟
د شپې د مورو پلار تر منځ ويد بدل.
*******

تيلفون ښوونځي ته:
– نن نجونې والکي وهلې، ښوونځي ته د رتلای نه شي !
تاسو څوک خبريې کوئ؟
- دا زما پلار دی !
*******

ښوونکی: پلار دې در سره مرسته کوي؟
نه، هغه ټول کورنی کار پخپله کوي.
*******

دوه غبرګولي نه پیدا کېدل، ډاکټر په الکتروسوم
کې ولیده چې ورور مخې ته ولاړ دی او خور ته وایي:

ولاکه رانه لوڅه ووځې !

*******

پلار مې په ښتک وواهه، ما وخندل هغه په
څپېړه وواهلم.

*******

مورې ! تا له ګاونډیانو پیسې واخېستې ؟
- هو که ستا د پلار په تمه وای، اوس به ته هم نه وای !
*******

په لوېدیځ کې د کورني اوډون(نظم ) پیام:
مورې یوازې یو پلار بس دی !
*******

آیا تا اورېدلي دي چې چېک ښوونکي شاګردان نه شو کابو کولای !

*******

# ځوانان لکه ګلان

موري ! ما واده وکړ، هغه هم بیکاره دی ،کور هم نه لري !

مور یې ورته وویل:

- راځه زه خپله خونه درکوم !

- نو ته چېرې وید پرېږې ؟

- زه ځان وژنم !

*******

یو ځوان د یوې نجلۍ مرکې ته ولاړ، د هغې مور
و پلار ورته وویل:
هغه اوس لوست وایي.
ځوان ورته وویل:
خیر دی، زه دوه ساعته وروسته راځم!
*******

نجونې په داسې هلکانو پسې ګرځي چې زر ارمانه
یې ور پوره کړي او هلکان په داسې نجونو پسې
ګرځي چې یو ارمان یې ور پوره کړي.
*******

یو ملا د ښځې په اړه ویل:
د فاطمې رښتینولي، د زهرا پاکلمني، د زینت زغم
، د اسمیې بلهاري او د جنېفر لوځ اندام.
*******

- مینه:

دريپ سانيې کتل ، ۳ پېله( دقيقی ) خندا ، ۳ گړۍ سپېڅلتيا ، ۳ ورځې اشنايي، ۳اوونۍ وفاداري، ۳ مياشتې لالهاندي، ۳کاله انتظار او ۳۰ کاله پښېماني.

*******

يو ځوان يوې تورې ښځې ته وويل:
ته شپه يې !
هغې په ځېرړه وواهه.
هغه ويل:
شپه څه بده ده !

*******

يوه عرب له يوې ښځې وپوښتل:
د جنس په اړه يو شی وپوښتم؟
هغې ورته وويل:
- ورک شه مرداره !
بيا يې وپوښتل:
هغې ورته وويل:

ورځه له مورنه دې وپوښته !
په پای کې يې ورته وويل:
ووايه !
هغه ورته وويل:
ستا د پتلانه جنس څه شی دی؟
*******

کتل يې لکه ګوربت، زړه يې لکه سمندر، لاسونه يې لکه اور ، ونه يې لکه سبر، ژبه يې لکه بلبل....
کوم شی يې انسان ته ورته دی؟
*******

له يوه وپوښتل شول:
د کورنۍ نومونه دې ووايه؟
د لور نوم مې ايران دی، ورځ پر ورځ وده کوي، د مېرمنې نوم مې موبايل دی ، نه پيدا کېږي او زما نوم امريکا ده چې هېڅ تېروتنه نه کوم.
*******

یوه سړي د خپل زوی تر مړینې لس کاله وروسته لا ژړل.
ولې ژاړې؟
-هغه د ښخولو په وخت کې څرنګه لاس او پښې
غورځولې !

*******

ته د مینې کولو پر مهال له مېرمه سره خبرې کوې؟
هو ، که یې تېلېفون راغی.

*******

یوه ورځ یوې ښکلې ښځې یوه بد رنګ سړي ته ګاډی
ودراوه او له ځان سره یې سپور کړ ،کور ته یې بوت
اوور ته یې وویل:
ته کالي وباسه زه راځم !
شېبه وروسته هغه له کوشني زوی سره راغله او خپل
زوی ته یې ویل:
که شودې و نه خورې داسې بد رنګ او ډنګر کېږې !

*******

يو سړی د وينو ورکولو لپاره نرسې ته و رغی، هغې يې گوته ورومو ښله چې رګ يې جوت شي. ده ورته وويل:
تاسو د متيازو ازمايښت هم کوئ؟
*******

-يوه شاګرد د ازموينې پوښتنې په لنده وچه (شيرو خط) ځواب کړې او په خولو کې خيشت پيشت وو چې ښوونکي ترې و پوښتل:
ولې، ځوابونه دې نه دي کښلي چې داسي وارختا يې؟
- نه، کښلي مې دي، خو اوس يې چکوم.
*******

يوه نجلۍ کشيش ته ورغله او هغه ته يې ويل:
زه چې له هېنداري سره تېرېږم، له ځان سره وايم، څومره ښکلې يم، دا خو ګناه نه ده؟
هغه ورته وويل:

دا ګناه نه ده، خو غولېدنه ده.

*******

یو ځوان د یوې نجلۍ کره مرکې ته تللی وو. هغې نجلۍ بریتونه درلوده. ده ورته وکتل هغه پر ژړا شوه.
ده ورته وویل:
ښه هلک نه ژاړي !

*******

یوه سړي خپلې مېرمنې ته وویل:
راځه د مینې خبرې وکړو !
هغې و ویل:
لومړی یې ته پیل کړه !
هغه وویل:
-ورورډې ښه دی ؟؟؟؟

*******

سترګې دې هغه وخت ښکلې ښکاري چې او ښکې پکې ځلېږي او اوښکې هغه وخت ښکلې ا ېسي چې

مینه نا کې وي او مینه هله ښکلې بریښي چې ستا وي
او ته هم هله ښکلې ښکارې چې ګوتې دې په پزه کې
وي.

*******

یو ځوان له عسکرۍ نه یو لیک مور ته ولیکه:
ما ته واده وکړه او د زوی عکس مې راواستوه !

*******

نجلۍ هلک ته وویل:

غواړې د پرونۍ پېچکارۍ ځای دروښیم !

هغه وویل:

- هو ، هو ،

هغې وویل:

هغه ودانی،دویم پوړ.

*******

یو ځوان له نیکر سره مرکې ته تللی وو ، چا ترې وپوښتل:

ولی په نیکر کې راغلی یې ؟

هغه وویل:

نه ویل کیږي، دلته مې شپه شي !

*******

سړي نجلۍ ته وویل:
یو مچه راکوې؟
هغې ورته وویل:
نه !
- بلا مې در پسې، زه ماینه لرم، ستا په پار وایم.

*******

يوه ښځه د عراق جنګ ته تللې وه هغې ته يې وويل:
تا په جنګ کې څه وکړه ؟
هغې پر نس لاس تير کړ او ويې ويل:
دا يو مې دلته بندي نيولی دی.

*******

ولې پرشا شا ځې ؟

خلک وايي د شا له خوا لکه الن دولن ا ښسې.

*******

نجونې لکه راديو دي، يوازې وايي او نه اوري؛
لکه ليمو سر يې خوړ او پای يې تريخ دی؛ لکه د
بربښنا مېتړڅه وخت وروسته يې عمر له سره پيل
کېږي ؛لکه بم کښ ماشين د سرو زرو په ليدو
غبرګون ښيي.

*******

ولې دومره بد رنګه يې ؟
زه په سينګارځي کې بدله شوم !

*******

د مينې په اړه:
اسپانيان وايي: مينه چوپه ده، که وږغېږي، ږغ يې له هر ږغ نه پورته دی.
ايټاليان وايي: مينه ويره ده، ستا له تلو نه.
ايرانيان وايي: مينه د دوونا پوهو تر منځ يو ورانپوهاوی (سؤتفاهم) دی چې په يوه ښښنه پای ته رسي.
او افغانان وايي: مينه له وينې سره اخښلې ده!

*******

هغه جوړه وينې، دا لس کاله يې د واده کېږي، خو داسې ښکاري چې واده يې نه دی کړی.

*******

که چا يو پيغام( ميسيج )درکړ، ته يې ياد يږي. که يې دوه ميسيجه درکړه، ته پرې ګرانه يې. که يې درې ميسيجه درکړه، پر تا مين دی. که يې څلور ميسيجه

درکړه، تا غواړي او که یې پښځه میسیجه درکړه، نو پوه شه چې هغه چنجي لري.

*******

پخوا نیو ویل:
لوړه ښه ده، که مینه؟
خو خلکو و یل: لوړه،
خواوس که دې په ښار کې متیازې ونیسې، دواړه درنه هېروي.

*******

یوتن په سینما کې د یوې میرمن او مېړه تر شا ناست وو، هغو سره پچ پچ وو، هغه ورته وویل:
زه مو په یوه ټکي هم نه پوهېږم !

*******

میکي روني اته ودونه کړي ول، د نکاح پر ورځ ترې کشیش وپوښتل:
که تا مخکې واده کړی، له چا سره دې کړی؟

روني ورته وويل:دا بیا څه شی دئ ؟
-دا دیادښت ازموینه ده.
*******

یو سړي ۱۵ کاله دعا کوله چې خدای زوی ورکړي، په پای کې یوه پرښته راغله او ورته یې وویل:

لومړی واده وکړه چې زوی درکړو !
*******

یو پوهپال( محصل ) ډیر خپه ناست وو ،ټولګیوالو ترې و پوښتل: ولې خپه یې؟
هغه ورته وویل:
ما کورته خبروکړ چې پیسې راواستوي چې لپ تاپ رانیسم، خو هغوی لپتاپ راواستاوه !
*******

يوې نجلۍ يو ملګری درلود او هغه ته يې وويل د شپې زه يوه ييکۍ ( سکه ) درغورځوم، بيا ته را پورته شه !
د شپې هغې ييکۍ ورو غورځوله او ښه ډير وخت تېر شو ، نجلۍ ورته وويل:
څه کوې، را ځه کنه !
هغه ورته وويل:
په ييکۍ پسې ګرځم !
دې ورته وويل:
ييکۍ زما په لاس کې ده ، په تار پورې مې تړلې ده !
*******

که ښځې نه وای:
بازار به تشتور وای ؛د سپما پيسې به ډيرې وای؛ دوکانونه به خالي وای؛ شيطان به بيکاره وای ؛ مخابرات به ديوالي ياورشکست وای او ټول نارينه به جنت ته روان وای.
*******

پر پانه مې ولیکل، ته راباندې ګرانه یې، تا هغه لکه وزې وخوړله !

*******

یوه هلک یوې بد رنګې ښځې ته کتل. مېړه یې هغه له غاړې ونیو.
هلک ښښنه وغوښتله، خو هغه و رته بیا وویل:
که دا مچ نه کړې ،له زړه یې دا سپکاوی نه وځي !

*******

د پوهنتون مشرپه یوه غونډه کې نویو پوهپالوته وویل:
که څوک د ښځو شپېغالي( لیلې ) ته ورشي، لومړی وار لس ډالره او دویم وار د پرش ډالره جریمه کېږي !
یوه لاس پورته کړاو وییې پوښتل:
د ټول کال جریمه څو کېږي؟

*******

د سیاسي علومو د ښوونکي لکچرپرنجونو بد ولګید او ویې پتېیله چې په بل لکچرکې په یوځایي توګه له ټولګي ووځي. ښوونکی چې خبر شو ، نو په نوي لکچر کې یې وویل:

په سویډن کې یوه بدکاره ښځه د یوې شپې زر ډالره اخلي.

نجونې پورته شوې.

ښوونکي ورته وویل:

چیرې ځئ، تر پنجشنبې پورې الوتنه نه شته.

*******

ولې ښځې فوټبال نه کوي؟

د هغو کله خوښېږي چې دولس تنه نورې ښځې دې د دوی غوندې کالي واغوندي !

*******

یوه چا په لمباځي کې متیازې وکړې، ښوونکي ورته وویل:

ولې دې متیازې وکړې؟

هغه ورته وویل:
- ټول یې کوي.
- خوهغوی یې پټې کوي !
*******

یوه ځوان زنګ واهه د تېلېفون د کمپیوټر نه ورته یوې ښځې وویل: هغه اوس نشته !
ده و رته وویل :
-هغه پر بېږه ده ته څرنګه یې؟
*******

یوې سپین سرې، یو سپین ږیري ،یوې نجلۍ او یوه ځوان په اورګاډي کې سفر کاوه چې پر تونل ننوت د یوې مچې او څپېړې غږ پورته شو ، سپین سرې ویل:
دا ښه حیاناکه نجلۍ ده .
نجلۍ ویل:
دا ښه با حیا سپین سرې ده .
سپین ږیري ویل:
بله مچه اخلې او ما وهې؟

ځوان ویل:
خپل لاس مچ کړه او خپل دښمن فرانسوی ووهه !
*******

نجونې لکه کبان دي، نیول یې اسان او ساتل یې ګران دي.
*******

د دوتر ټولو غړو رخست واخېست او د منشي میرمنې رییس خپل کور ته مېلمه کړ. هغه چې هلته ورغی، د منشي میرمنې ورته وویل:
ته تیار شه زه ژر راځم !
هغه چې ووتله رییس ځان لوڅ لغړ کړ او تیا ر کښېناست، که ګوري، د دوتر ټول غړي رانننوتل او ده ته یې وویل:
کالیزه دې مبارک شه !
*******

یو سړي په یوه بار کې یوه ښکلې نجلۍ ولیده او بار والا ته یې وویل هغې ته یو هسپانیي بیر ورکړه،
هغه ورته وویل:
- یهودی بیر لرو.
- هغه هم بد نه دي !
چې نجلۍ نشه شوه، ده ته یې وویل:
راځه سودا (شاپینګ) ته ولاړ شو !
*******

یوه یهوده یو لیلا م ته ناسته وه چې لس په سلو کې ارزانه شوی وو.
چې وار یې راورسید دا پوه شوه چې دا د سنتی (ختنه) لیلام وو.
*******

داسې پوستکارت لرې چې پرې لیکل شوي وي:
یوازې ته زما مینه یې.
-هو.
- نو ۱۲ دانې راکړه !

*******

يو ځوان مېن شو او تش كسبټ يې اوريد.

*******

ولې ښځه نه كوې؟
ځوك خپله ښځه راكوي !

*******

ښځه هغه نكتايي ده چې سړى هم ښكلى كوي او هم خپه كوي.

*******

ښځه په ۱۸ كلنۍ كې د فوټبال ګيند(ټوپ) دى چې ۲۲ تنه ورپسې وي،
په ۲۸ كلنۍ كې د هاكي ګيند دى چې لس تنه ور پسې وي،
په ۳۸ كلنۍ كې د ګلف ګيند دى چې يو تن ور پسې وى،

په ۴۸ کلنۍ کې د پینګ پانګ ګیند دی چې دوه تنه یې له ځانه شړي او په۵۸ کلنۍ کې جنګی توپ دی چې هېڅوک تر لسو مترو ډېر نژدې نه ورځي.

*******

یوه چا د چا پر مړي ډېره نارامي کوله، چا ترې وپوښتل:

-هغه دې څه کېږي؟

کاشکې مې هغه څه کېدلای، ما ته به یې هم څه شته رسیدلی وای.

*******

یو ه چابرنارد شاو ته وویل:

ستا یو ویار(عیب) دا دی چې په پیسو پسې یې !

هغه ورته وویل:

ته په څه شي پسې یې؟

هغه ورته وویل:

زه په فضلیت او شرف پسې یم !

شاو وخندل او ویې ویل:

سمه ده ،هر څوک په هغه څه پسې دی ،
چې نه يې لري.

*******

د سړی وجدان ولې پاک دی ؟
ځکه دهغه نه کارنه اخلي !

*******

که ښځه مچ کړې، نو ته يو ښاغلی يې ،کنه نو نارينه نه يې !

*******

که د ښځې ستاينه وکړې، وايي، دروغ وايې او که هغه ونه ستايي، نو ستا ښه والی بيا څه دی؟

*******

که یو ﭘﯧﻞ( دقیقه ) وځنډېږي، غور غور درباندې کوي. که وختي ورشې، وايي، دا څه ښځينه چلند دی !

*******

د مېړه او سپي سا تلو توپير څه دی ؟سپی مځکه مردار وی او مېړه ژوند.

*******

ولې د ښځو ماغزه د نارينه وو ترمغزو درانه دي؟

ځکه ښځې له مغزو کارنه اخلي !

*******

د هغې ښځې ښه جزا دا ده چې پرې یې ږدې، هغه د هغې مېړه شي.

*******

# دګډژوند چارې

یو سړی بل ته ویل: وایي، داسي یو ځای شته چې
هلته وړیا شراب ، وړیا خواړه، وړیا لامبواو سهار هم
۵۰۰ ډالره نقدې پیسې ورکوي.
-هغه چیرې دی؟
ما ته څرګندنه دی ، زما مېرمن څو وارې ورغلې ده.
*******

حوا له ادمه وپوښتل: زه درباندې ګرانه یم؟
هغه ورته وویل:
بله کومه چاره هم لرم؟
*******

یو کارمند په مات سر دوتر ته راغی:
-دا ولې؟

- مېرمنې مې په ګلانو وويشتم.
- په ګلانو !
-هو ، کونډاله (ګلدانی ) له ګلانو سره وه.

*******

زه هېڅ وخت د سر جوړولو پیسې نه ورکوم.
-څرنګه؟
-هر وخت چې مې وېښته ورسېږي، له میرمنې سره می شخړه کوم او هغه مې ټول وېښته راشکوي.

*******

یوه سړي خپلې میرمنې ته وویل:
تبریک ، مور شوې !
هغې ورته وویل:
هیله ده چې ته هم کله پلار شې !

*******

یو چا بدلمنې مېرمن درلوده ، خپل ملګري ته یې پلپوټ وکړ.

ملګري ورته وویل:

ته غواړې، خدای هغه مړه کړي؟

هغه ویل:

- نه !

- ولې؟

ځکه له دې ښه خبر سره سکته و نه کړم.

*******

دا چې ته په زندان کې وې، څرنګه دې پېنځه زامن پیدا شول؟

هغه ویل:

زه بندي وم، مېړمن خو مې نه وه.

*******

یوې ښځې له هغې وروسته چې د مېړه په جیب کې
یې د ماري نوم ولید ، په څپېړه یې وواهه.
مېړه یې پرې را وپارېد:
د اد هغه آس نوم دی چې ما د آسانو په لوبه کې پېچ
ګره(شرط ) ترلی وو.
بله ورځ یې بیا هغه په څپېړه وواهه.
- بیا دې ولې ووهلم ؟
-دا ځکه هغه اس پرون شپه ټېلېفون کړی وو.
*******

کولن سم کار نه کاوه، هر وخت به د بولینګ او تینس
پر لوبو اخته وو. نو مېرمنې یې وپتېیل، هغه د
لوچګانو کلپ ته بوځي، خو هغه نه ته. هغه ویل :
دا ځای د ښو خلکو ځای نه دی !
خو هغې غوښتل چې د ده سات تېر شي.
چې کلپ ته را ورسېدل دروازه وان ورته وویل:
- ښه راغلی کولن نن شپه څرنګه یې؟
میرمن یې په هېښتیا هغه ته وکتل.

هغه ورته وویل:
- دا مې د بولینګ انډیوال دی.
چې کښېناستل، د رستورانت کارکوونکې ورته وویل:
خوشاله شوم کولن! چې نن بیا تا وینم. بیا هم سکاچ
په روک کې درته راوړم؟
د مېرمنې سترګې له غوسې راووتې او کولن ته یې
وویل:
- ته لکه چې ډېر دلته راځې؟
- نه، نه، هغه د تینس د کلپ غړې ده.
یو ګړی وروسته یوه ښکلې لوڅه ډانسره په نڅا نڅا
د ده مېز ته راغله، دی یې په غېږ کې ونیو او ورته
یې وویل:
ستا د زړه د خوښې نڅا ده، کولن؟
مېرمن یې په غوسه له کلپه ووتله. دی هم ورپسې
شو او دواړه یو ټکسي ته وختل او په لوړ ږغ یې
ورسره جګړه پیل کړه.
ټکسي لا څو متره نه وو تللي چې ټکسي وان مخ
وروا ړه او کولن ته یې وویل:

داسې څرګند ېږي کولن چې نن دی کومه بېشرمه لولۍ راپورته کړې ده !

*******

د يو کلاهوما يوه ځوان خپله ناوې د خوږې مياشتې د تېرولو لپاره يوه لوکس هوټل ته بوتله. هلته يې کړکۍ پرانېستله او او د اسمان د ستورو پر ننداره شو.

شپه پخه شوه ناوې ورته وويل:

-ولې بستر ته نه راځې؟

هغه ورته وويل:

مور مې راته ويل، نن ستا د ژوند تر ټولو ښه شپه ده. نو زه نه غواړم، يوه شېبه يې هم له لاسه ورکړم.

*******

يوه ښځه پر واټ روانه وه، جاکټ يې واز او تی يې راځړېده. يو لاروي ورته وويل:

ستا بلوز واز دی او تی دې را ځړېږي !

هغې لاندې وکتل او چيغې يې کړې:

و خدايه ! ما خپل زوی په بس کې پرېښی دی !

*******

يوې ښځې پلاستيکي عمليات کړی وو او د ګاډي
په ټکر کې هغې نړۍ ته ولاړه.
هلته ورته وويل شول، ته ۴۰ کاله نور ژوند لرې !
نو هغه بيرته ژوندۍ شوه.
بل وار يې خپل پلاستيکي سينګار ايسته کړ، يو ه
ورځ يې بيا ټکر وکړ او بلې نړۍ ته بيا ولاړه. هلته
ورته وويل شول، ته نور وخت نه لرې.
دې ورته وويل:
هغه بل وار تا سو راته وويل ته ۴۰ کاله وخت لرې !
هغوی ورته وويل:
موږ ونه پيژندلې.
*******

يوې ميرمنی ښه سينګار وکړ او بيا يې له ميړه
وپوښتل:

زه د څو کلونو بنکارم ؟
هغه ورته وویل :
له پوستکي نه۲۱ ، له وېښتانو نه د ۲۳ ، له څېرې نه د ۱۸...
هغې ورته وویل:
ډېر غوره مال یې.
هغه ورته وویل:
ته خو وار وکه چې زه دا سره وشمېرم !
*******

یوې وېرېدلې میرمنې له تیلفونه یو اشنا غږ واورېد:
- ما یوه بده ورځ تېره کړه زما پښه وبرېښېده او سودا ته نه یم تللی، د کالومینځلو ماشین وران شو ، ماشوم تر اوسه شی نه دی خوړلی، کور ګډوډ دی او د شپې مېلمانه لرم !
- چورت مه وهه، زه به په نیمه ګړۍ کې درشم، سودا به درته راوړم ؛کور به پاک کړم او د مېلمنو

لپاره به خواره پاخه کړم او یو انجینر ته به تیلفون وکړم چې د کالو مینځلو ماشین درجوړ کړي !

- ښه جورج
- جورج څوک دی ؟
- جورج زما مېړه !
- آیا دا شمېره ۳۱۴۴۶۲۲۸ ده؟
- نه، ۳۱۴۴۶۲۲۹ !
- نو دا مانا چې ته نه راځې !

*******

یو دوکاندار غوښتل چې خپلې میرمنې ته طلاق ورکړي، نو کازي ترې و پوښتل:
ستا څه وخت پام شو چې هغه له تا سره خیانت کوي؟
هغه ورته وویل:
زه ټوله اوونۍ کار کوم او یوازې د یکشنبې پرورځ کور یم. د یکشنبې پر ورځ د کور په چمن

کې پروت وم او له مېرمنې سره مې مینه کوله چې
د ګاونډ زړې ښځې چیغې کړې:
دا ټوله اوونۍ لا بس نه ده، نن لا هم اخته یاست؟
*******

ښځه مېړه ته:
که نن مې د مور کره ولاړ نه شې، بیا به ما ونه
وینې !
ولې؟
- ځکه ستا سترګې ړندوم.
*******

کازي یوه سړي ته:
ته به خپلې طلاق شوې مېرمنې ته د اوونۍ ۸۰۰
ډالره برابروې !
هغه ورته وویل:
دا ښه پرېکړه ده ،زه خپله هره اوونۍ څو کسه
وراستوم !
*******

جولیا خپلې خورینې ته:
زه غواړم مېړه ته مې طلاق ورکړم، هغه هر وخت په سینما کې له یوې بلې ښځې سره وینم.
هغې ورته وویل:
ولې هغه هر وخت په سینما کې وینې؟
دې ورته ویل:
ځکه زما د ملګري سینما ډېره خوښه ده.
*******

یوه سړي خپلې میرمنې ته طلاق ورکاوه، هغې ورته وویل:
ته څرنګه ما ته طلاق راکوې؟
هېر دې شول، هغه وخت چې ته ملاریا نیولی وې او ما ستا چوپړ وکړ، کله چې ستا ټوله کورنۍ توپان یووړه، ما ستا ډاډ بینه کوله، چې کور مو غلا شو، ما بیرته کور درسره جوړ کړ!

هغه وخت چې تا ۴۰۰۰۰ ډالره وبايلل زه له تا سره
وم او ستا ډاډ بېنه مې کوله..
هغه ورته وويل:
پرابلم همدا دی چې ته بد بخته يې !
*******

چې واده وکړې، د مېرمنې عکس په جيب کې
ساته !
که کوم ناورين در پېښ شو ، هغه ته وګوره او په
ياد لره چې يو لوی بل ناورين هم لرې !
*******

ښځې له خپل مېړه سره شخړه وه. مېړه يې
کوشنيان له لاسه ونيول او له کوره ووت.
مېرمنې يې ورنارې کړل:
د ا د نورو خلکو زامن چېرې بيايې.
*******

يوه ښځه ولاړه شوه، مېړه يې ورته وويل:

-چیری ځې؟
هغې ورته وویل:
-تشناب ته
ده ورته وویل:
- نه، زه پخپله ورځم!
*******

یو سړي بل ته:
ستا مېرمن یو چا په ماکسیما کې د۱۲۰ کیلومترو په چټکتیابوتله
هغه ورته وویل:
ربنتیا وایی، ماکسیما په۱۲۰ کیلو متره تېز تلای شی؟
*******

زه ډیر خواشینی یم چې ستاسو کوروسو او مېره دې مړ شو!
ربنتیا هغه د اور لګولو پر وخت څه کول؟

-هغه ویده وو ، ما را ویښ نه کړ. له کاره نوی راغلی وواو ډېر ستړی وو.

*******

د یو سړی ترلسو کلو و روسته زوی پیدا شو ، د کور پر وره یې ولیکل:

د دې سیمې له خلکو مننه !

*******

د یوه سړي په کور کې اور لګېدلی وو ،له یوې کوټې بلې ته اوراته یوه چا ترې وپوښتل:

څه خبره ده ، څوک هلته پاتې دی !

ده ورته وویل:

هو ، خوابښې مې هلته ده ، هره پلا ورځم او لرګي یې شاو خوا ته راغونډوم.

*******

یو سړي له خپلې میرمنې وپوښتل:

کله هم ستا زړه غوښت چې ته نروای؟

هغې ورته وويل:
زړه مې غوښت چې ته نړوای !
*******

۲۷-په سینګارځي کې یوې مېرمنې د مېړه له ناوخته راتګه سرټکاوه، بلې ورته وویل:
زما مېړه هم ناوخته راته، یوه ورځ ناوخته راغی، ما ناري کړه:
- راځه مایکل !
له هغې ورځې وروسته بیا هغه ناوخته نه دی راغلی.
دا څرنګه؟
ځکه د هغه نوم جان دی.
*******

یو نفر خوانبې ته تیلفون وکړ، هغې ورته وویل:
زه مړه کېږم او ته اوس تیلیفون کوې !
هغه ورته وویل:
وبښه مزاحم شوم !
*******

یو سړی خوشاله کورته راغی او مېرمنې ته یې وویل:
هرڅوک که پنځه بچي ولري، حکومت یې کورنۍ ته یو موټر ورکوي.
ښځې یې وویل:
زموږ دا خو درې دي!
ده ورته وویل:
د ګاوندي دوه هغه هم زما دي.
ورغی، هغه یې راوستل چې کور ته راغی، دوه زامن یې نشته.
- هغه چېرې دي؟
هغې ورته وویل:
تام هم خپل دابوتلل!

*******

د الیاس مېرمن د مېړه له اندېوال جان سره ناسته وه چې تېلېفون راغی.

-ګرانې، زه له جان سره کېنيونې ته ځم چې وارختنا نه شې !
هغې جان ته وويل:
ښه ساتېري درته غواړم !
*******

يو سړې درې مېرمنې درلودې. يوه بله توره ښځه يې هم پسې وکړه او ويل يې دا مې د عزا لپاره کړې ده.
*******

کوم زوی دې درباندې ګران دی؟
درېيم زوی.
- ولې ؟
- هغه سيد دی !
*******

يو سړي په ټاکنوکې درې رايې وړې وې، مېرمنې يې په غوسه ورته وويل:
زه پوهېږم، د کومې بلې ښځې پښه په منځ کې شته !
*******

تا چې خپله مېرمن وژله، د خپل وجدان غږ دې وانه ورېد ؟
- هغې دومره چيغې وهلې چې ما نور څه نه اورېدل.
*******

يو چا خپله مېرمن وهله.
چا ورته وويل:
څه يې کړي دي؟
هغه ورته وويل:
که هغې کوم څه کړی وای، بیا مې نو وژله !
*******

غبرګ بې جريمې درېدځی( پارکينګ ) دی او مچه يې ټکردی چې تاوان نه لري.
*******

پرون مو کورته غل راغلی وو او مېرمنې مې سوچ کاوه، زه ناوخته راغلی یم او غل اوس په روغتون کې دی.

*******

بیا دې ټو کر رانیو؟

هو، غوارم، تا ته ترې پزخپوڼی (دستمال) جوړکړم او له پاتې یې ځان ته کالی!

*******

یو سړی د خپلې میرمنې او خوابنې د وژلې په تور محاکمه کیده، کازي ترې وپوښتل:

تا خپله مېرمن په ځټک مړه کړه؟

- هو!

یوه له پایه ناري کړه:

- بې پته!

بیا کازي وپوښتل:

تا خپله خوابنې هم په ځټک مړه کړه؟

- هو!

بل ناري کړل:
-یه بې وجدانه !
کازي هغه سړي ته مخ کړ:
که چوپ نه شې، له نیاووالۍ (محکمې) دې باسم !
هغه ور غبرګه کړه:
دا زموږ ګاونډی دی، دا لس کاله کېږي، زه ترې
څټک غواړم او راته وایي، نه یې لرم !
*******

چې مېرمن مې په کور کې نه وي، استراحت کوم که
وی بیا استقامت کوم !
*******

یوې ښځې په کلیسا کې په زوره زوره وټوخل یو
سړی یې و میړه ته وویل:
ستا پام دی، مېرمن دې، بده ټوخېږي !
هغه ورته وویل:
یا هیڅ خبره نه ده، هغې نوې خولۍ پر سر کړې ده.
*******

نوی ناوې ناوک ته:
ددوو شیانو پخول مې ښه زده دي: یو د منهوکېک او بل د غوښو غورمه.
- دا یې کوم یوه ده؟
*******

یوې ښځې سړو پي( شیریخ ) ځته، بلې ژبه پرتېروله او بلې یوې غاښ پرې لګاوه، کومه یوه یې مېړوښه ده؟
یه بې ادبه، هغه چې ګوته یې پر لاس ده !
*******

په نیویارک ښار کې رېږده(زلزله) وشوه. یو سړی د خپلې مینې سر ته ودرید او ورته یې وویل:
یو دېوال در باندې نه وو پریوتی، هغه هم در باندې پرېوت !
*******

يوې نجلۍ يوه هلک ته مچه ورکړه ، پلار يې هغې ته په غوسه وويل :
سبا به سګرېټ څکوې !
*******

يو هلک او يوه نجلۍ په پارک کې ناست ول، هلک وويل:
که دې ناجوونې خبرې کولاى، زموږ په اړه به يې څه ويل؟
هغې به ويل: لوده ،زه د څېړۍ ونه يم !
*******

نجونې په ژوند کې هېڅ شی نه غواړي، کله چې مېړه پيدا کړي، هرشی غواړي.
*******

ښځې مېړه ته وويل:

وبښه چې ما د هغو بډو له کبله چې تا اخېستې وې، ما پر لاس ورکړې او هغه یو ملیون ډالره چې ورک شول، ما غلا کړي ول او ما وبښه کله چې دې مور او پلار زمور مېلمانه وه، ما د هغو په ځای کې مور بک خوشې کړ!
مېړه یې وویل:
زه هم منښته(اعتراف) کوم ما درته زهر په چای کې اچولي دي!
*******

یو سړي خپله ښځه د هوسۍ ښکار ته بیولې وه او ورته یې ویل:
ویشتلو وروسته ژر ځان ورسوه او وایه، دا ما ویشتلې ده!
د ټوپک ډزې وشوې چې د ښځې خاوند راغی، د ښځې له یو بل سړي سره شخړه وه:
-دا ما ویشتلې ده!
هغه ورته وویل:

ته اجازه راکړه، زه دا زین ترې واخلم، بیا دې هوسۍ یوسه !

*******

یو سړي خپله مېرمن له خپل دوست سره یو ځای ولیده ، تو پنچه یې را واخېسته او ویې ویل:
زه باید ځان مړ کړم !
مېرمنې یې وخندل.
ده ورته ویل:
مه خانده، دویم وار ستا دی !

*******

دیوې یهودې او ایتالیې مور تو پیر دا دی:
ایټالیي خپل زوی ته وایي:
که دې ډوډۍ ونه خوړه، وژنم دې !
یهوده بیا خپل زوی ته وایي:
که دې ډوډۍ ونه خوړه، زه ځان وژنم !

*******

يهودي مېرمنې ته تېلېفون راغى:
چيرى يې ؟
-زه پټه يم !
- راته ووايه چېرې يې؟
-زه پټه يم !
- ما درته د الماسو امېل راوړى ،چېرې يې؟
- زه پټه يم، د څوكيوشا ته د مېلمنو په خونه كې !

*******

يو سړي له يوې ښځې سره بې له دې چې هغه وپېژني، واده وكړ او د شپې هوټل ته ولاړه. سهار يې مېړه په لمبازي كې ډيپ وكړ، مېرمن يې ورته وويل:
ته لكه چې د اولمپيا د لوبو اتل يې !
- هو
بيا ناوى په ډنډ كې ډيپ وواهه او تر نيمې ګړۍ يې بې له سا اخېستنې تر اوبو لاندې لامبو وهله.
- ته لكه چې د اولمپيک د لامبو اتله يې !
- نه، زه د رود د دواړو غاړو قراردادي كچنۍ يمه !

*******

زما ډیر کرېدېت کارتونه غلا شوي دي، خو غله زما تر مېرمنې لږ لګښت کوي - هانري یونګمن.

*******

لومړی سړی: زما مېرمن پرښته ده.

دویم: زما هغه لا ژوندۍ ده !

*******

-یو سړي خپله مېرمن د ژویو په نومونو یادوله،

دوست یې ورته وویل:

- دا ښه کار نه دی، د هغې درناوی کوه !

هغه ورته وویل:

دادرې میاشتې کېږي، نوم یې راڅخه هېر شوی دی !

*******

سړي لکه مسکارا دي، په یوه پاربدنه له منځه ځي.

*******

د نوې مېرمنې او سپي تر منځ توپیر دا دی چې که دا سپی یو کال وروسته ووینې، خوشالېږي.

*******

واده داسي دی، لکه د لوښي ولنې ماشين چې نه وي،لوښي په لاس پرېمنځل کېږي.

*******

مینه لکه هوا ده، تر هغې يې چې لري،ارتیا ورته نشته

*******

یو سوداګر او یوه ښځه د هوټل په یوه خونه کې اوسېدل، هوټلي ورته وویل:

سوداګر په خوب کې ډېر خو رخور کوي !

دا چې خونې ته ورغله، هغه يې پر مخ مچ کړ او ورته يې وویل شپه په خير !

په دې توګه هغه تر سهاره ويښ پاتې وو.

*******

يو سړی د واده په مراسمو کې د کليسا شا ته ولاړ وو
او کشيش ته يې وويل:
د يوه له تېرونتې بايد بل ګټه پورته کړي ؟
کشيش ورته وويل:
- نه !
-نو هغه ۵۰ ډالره چې ما د نکاح لپاره درکړي وه،
بيرته يې راکړه !
*******

يوه ښځه کليسا ته راغله، دروازه وان ورته وويل:
ستا بلنليک کوم دی؟
هغې ورته وويل:
- زه يې نه لرم !
ته د زوم له دوستانو يې؟
نه. بابا زه د ناوې مور يم !
*******

يو زوم کشيش ته سل ډالره ورکړه او ورته يې وويل:

ته دا ژمنه وکړه چې ((تا ته وفاداره يم )) غونډله يا
جمله د نکاح له متنه لرې کړې !
کشيش وويل:
په نکاح کې ته ژمنه کوې چې هغې ته به سبا ناری
جوړوې او بلی بنځې ته به نه ګورې؟
زوم ورته وويل:
- دا څه وايې؟
کشيش بيرته هغه ته سلډالره په لاس کې ورکړه او
ورته يې و ويل:
د هغې وړانديز بنه دی !
*******

يو ساده ځوان د ناوې له مور و پوښتل:
- د ناوې کالي ولې سپين وي ؟
-سپين د پاکۍ نښه ده.
او هغه بيا د زوم له پلاره وپوښتل:
هغه ورته وويل:
د پخلنځي ټول سامان سپين وي !

# زاړه، بې خوړو دي مړه

یوې سپین سرې لمسي ته وویل:
ځګر دې وخورم.
هغه ورته وویل:
اخ، ته خو غاښونه نه لرې !
*******

یو سپین ږیری د ویګرا ګولۍ وغوښتې
درملساز ورته وویل:
څو دانې غواړې ؟
-اته دانې غواړم او هره دانه یې څلورتوټې کړه !
- ولې؟
زه یوازې غواړم چې د متیازو پر وخت مې کلوشې لندې نه شي.

*******

يو پروفيسور تر يوه سرکه تېرېده، يو شاګرد ورسره مخامخ شو او څو پوښتنې يې ترې وکړې.
بيا پروفيسور ورنه وپوښتل:
زه له کومې خوا راغلم؟
هغه ورته وويل: د شمال له خوا !
هغه وويل: ښه شوه، نود سهار چای مې څښلی دی.

*******

انا چې سپين سرې وه، روغتون ته د متيازو د معاينې لپاره ولاړه. دا چې لابراتوار په دريم پوړ کې وو، نو د متيازو بوتل يې خپلې ګاونډې ته ورکړ چې هغه پاس وخېژوي. له هغې نه بوتل واوښت او له خپلو متيازو يې ډک او لابراتوار ته ورکړ.
د متيازو ازمايښت وښوول چې هغه اوميدواره ده.

زړې ښځې وویل:
عجبه زمانه ده اوس پر تور بانجان هم باور نه شو کولای!
*******

یوې سپین سرې له زړښت سره سره بیا هم پر ځان لاس واهه. یوه ورځ یې په یوه مېلمستیاکې تر ځنګ ولاړ سړي وپوښتل:
هغه سړی وینې، دا لس پېله( دقیقې) کېږي، ما ته ګوري، دا څوک دی؟
هغه ورته وویل:
هغه انتیک پلورونکی دی.
*******

یوخبریال له یوه (۲۰) کلن سړي وپوښتل:
آیا د ځوانۍ کوم ارمان دې تر اوسه پوره شوی دی؟
-کله چې ځوان وم پلار به مې هر وخت له

وښتانو نیولم. ما ارمان کاوه چې کاشکې پک
وای او اوس دادی، پک یم !
*******

-دوه زاړه سره روان وه او مېړمنې یې تر شا پسې
روانې وې، یو بل ته وویل:
پرون په داسې یوه ښه رستوران کې مېلمانه وو
د هغه نوم و و..
ته مرسته را سره وکړه زه به د هغه نوم درته
ووایم. هغه کوم ګل دی چې ځوزان لري او ښه
بوی کوي ؟
- مرسل.
- هو.
بیا یې شا ته وکتل او ناري یې کړې:
مرسل ! هغه د پرون رستورانت څه نومېده؟
*******

یو (۸۸ )کلن سړی واده وکړ، د شپې یې له ناوې
نه وپوښتل:

مور به دې درته ويلي وي چې څه وکړې .
هغې ورته وويل: نه
سپين ږيري وويل:
عجبه بد کار وشو ، زما هم هېر دي چې څه وکړو.
*******

يوه ښځه چې د مړينې په حال کې وه د مېړه لاس
يې په لاس کې وو او ورته يې وويل:
زه بايد منښته وکړم !
هغه ورته وويل:
پر ځان فشار مه راوړه !
هغې ورته وويل:
زه بايد ټول شيان درته وو ايم ،ما ستا له ملګري
سره اړيکې درلودل.
مېړه يې ورته وويل:
زه پوهېږم ،د همدې په پارمې زهر درکړي دي.
*******

دوو زړو ښځو يو سړی وليد ، يوې وويل:
ورشه پوښتنه وکړه څړه (جره) دی، که نه؟
هغه ورته وويل:
له هغه وخت چې دريمه مېرمن مې مړه کړه،
څړه يم. دويمه مېرمن مې هم له لسم پوړ ه را
وغورځوله او لومړی مېرمن مې په زهرو مړه
کړه؛ دا شل کاله بندی وم، نن را خوشې شوی يم
هغې هغه بلې ته په خوشالۍ نارې کړل:
راځه څړه دی !

*******

يوې زړې ښځې په بس ګادی کې نارې کړل:
نا نای نی، نا نا نی نورو سپرليو ورسره
چکچکی پيل کړی هغې خپل غاښونه له
د سکول نه راوا ېستل او نارې يې کړل :
ګاډی ودروه !

*******

يوه سپين سرې په يو هلک پسې وه .

- ته ولې زما پسې یې؟
- ستا ښځه زما د زوی غوندې ده چې زه تلم یوازې ما ته ووایه، پر مخه دې ښه شه موری، زه به ډېره خوشاله شم !
د تګ په وخت کې هغې ور غږ کړه، زه ځم زویه !
هلک ورته وویل:
خدای دې مل شه مورې !
کله چې هلک له مغازې راوته مغازه والا ورته وویل: ستا شیان ۱۱۷ ډالره شول !
هغه ورته وویل:
- زما شیان پنځه ډالره لا نه کېږي !
- ستا د مور سودا هم ده.
*******

۸۸ کلنه مېرمن و مېړه کازي ته د طلاق لپاره ورغلل.
مېرمنې یې کازي ته وویل:

دی شراب خوري ، تل له نورو ښځو سره ولاړ وي او جوارګر دی...

مېړه یې وویل:

دا د کور کار نه کوي، خواره بېخي نه شي پخولای او په خوب کې ګرځي...

کازی هغوی ته وویل:

دا له کومې راهیسې ؟

دوی ورته وویل:

- دا اویا کاله کېږي.

- نو ولې اوس طلاق اخلئ؟

موږ د بېته سترګې پر لار ووچې بچي مو مړه شي.

*******

یو (۷۵) کلن سړی ډاکټر ته د چکینګ لپاره ورغی. ډاکټر د هغه زړه وکوت او هغه ته یې وویل:

زه ښښنه غواړم خو باید ووایم چې ستا زړه نابرابر دی، آیا ته سګرېټ څکو ې؟

- نه !

- شراب څښبې؟

نه !

اوس هم سېکسي ژوند لرئ؟

هو !

-زه باید په خواشینۍ ووایم چې تاسو د سېکس نیم ژوند باید هېر کړئ.

-کوم نیم ؟

د لیدنو یا سوچونو !

*******

## ډاکټرانو او د ناروغانو اتڼ

یو قهرجن زوړ جنرال په یوه عسکری روغتون کې بستر شو. هلته یې له ژوند ، ډوډۍ، بستر، سپېڅلتیا نه سرټکاوه. یوه ورځ مشر ډاکټر راغی چې تبه یې وګوري. جنرال ور ته دا ټول پلپوټ وکړ او ډاکټر ورته وویل:

زه غواړم له دننه خوا دې تو دخه چک کړم، ته په یو اړخ شه ، جنرال څه نور شورماشورهم وکړ او بیا پر اړخ واوښت.

ډاکټرورته وویل:

زه پېنځه دقیقې وروسته را ځم، بیا دا ګورم ته مه ښوره !

یو ګړۍ وروسته یوه نرسه(ناروغپاله) کوټې ته راغله او په هېښتیا یې وویل:

-دلته څه خبره ده؟

جنرال په کړس وویل:

-آیا تاسو هغه اله چې تودوخه جوتوي نه وینئ؟

ناروغپالې وویل:

دا اله نه ده، د نرګس ګل دی.

*******

په سړک کې یوه ژوره کنده وه، خلک راټول وه
،یوه ویل:
دلته باید تل امبولانس ولاړ وي !
بل ویل:
د هغه څنګ ته باید روغتون جوړ شي !
او دریيم ویل:
دا کنده باید ډکه شي او د روغتون مخې ته یوه بله کنده وکیندل شي.

*******

یوه ښځه ډاکټر ته ورغله، پر هر ځای یې چې ګوته ورا ښوولې، هغه ځای یې د رد کاوه.
ډاکټر ورته وویل:
ستا ګوته ټپي ده !

*******

تاس(پک )که لږ و ښتان زمونږ کولو ته لريي،نو بیا ډېر مخ پریوللو ته لري.

*******

ډاکټر صیب !غوږ مې خوږېږي ،خپل ټوخی نه اورم.
په زوره وټوخه !
*******

دیو مړي ترکتنې وروسته عدلي طب وویل:
دا سړی لس په سلو کې د اور او ۹۰ په سلو کې له
کوټلو نه مړ شوی دی.
هغه اور اخیستی وو او خلکو ترې په یمو نو اور مړ
کړ.
*******

و ساده سړی روغتون ته ولاړ چې پیچکاري وکړي.
نرسی ورته وویل:
پرتوګ دې وباسه !
ده و رته وویل:
زه شرمېږم، لومړی یې ته وباسه !
*******

ولې مرستون ته راغلې؟
ما ويل خلک لېونيان دي او خلکو ويل زه ليونى يم
هغوى ډېرى( اکثريت ) وه، نو ځکه راغلم.
*******

يوه ليوني لمر ته ګوته نيولې وه او له بل نه يې
وپوښتل:دا لمر دى که سپوږمۍ؟
هغه ورته وويل:
زه هم دې سيمې ته نوى راغلى يم!
*******

يو ډاکټر پټه ټپ ته واچوله، ټول ليونيان په
نڅا شول ،خو يو کرار ناست وو.
- ته ولې نڅا نه کوې؟
- زه ناوې يم.
*******

-وروستنى غاښ چې په خوله کې پاتې کېږي، هغه
کوم يو دى؟

- جوړښتي غاښ.

*******

يو ناروغ بل ته ويل:
زما د وينو ازماينه وه، هغوی زما ګوته راپرې کړه !
هغه بل پر ژړا شو.
- ولې ژاړې ؟
- نن زما د متيازو ازماينه ده !

*******

يو سړی درملتون ته ورغلی هغو ته يې ويل:
د سلګۍ درمل لرې؟
هغه يوه څپېړه وواهه او ورته يې وويل:
او دا يې درمل دي !
هغه ورته وويل:
زما د مېرمنې سلګۍ کېږي.

*******

تاسو به اوریدلي وي چې د لندن د ګب زیانونې(سقط جنین) په روغتون کې دولس میاشتې وروسته وار رسېږي !

*******

ډاکټر فرخ رو پارسا د ایران لومړۍ ښځینه وزیره وه ،هغې د ښځو د ورځې کالیزې په تړاو په یوه وینا کې داسې وویل:
در میان ما زنان شگاف است که مرد ها از ان سؤ استفاده میکنند و بر ما سوار میشوند.

*******

درې لېونیان یوه تش ډنډ ته ولاړ وه، یو ټوپ (ډیپ) وکړ د هغه لاس او پښه ماته شوه د بل سر مات شو له دریمه یې وپوښتل:
ته ولې ډیپ نه وهې ؟
هغه ورته وویل:
زما لامبو نه ده زده.

*******

تاسو په کلي کې ډاکتر نه لرئ ؟
نه، موږ په طبیعي مړینه مرو.
******

ناروغپالی یو سیاست ضد سړي ته وویل:

ستن دې کینې خواته ووهم که ښۍ خوا ته؟

هغه و رته وویل:

- زما کوني ته سیاست مه جوړوه ،په منځ کې یې ووهه !

*******

-

یو څوک له وني نه راولوېد ، ډاکتر ور ته د چنجیو درمل ورکړه.
*******
د جراحۍ د ډاکترانو غونډه:

ښه ناروغ حسابدار دی، هر څه یې پر شمېر برابر وي.
بیا وروسته پسی کتابدار دی، هر څه یې د ابیځې (الفبې) له مخې وي او درېیم بیا سیاستمدار دی چې سر یې پښو ته او پښې یې سر ته ، هیڅ توپیر نه کوي.
*******

ډاکټره ! د ناروغ سخته تبه ده.
آیا اپلتې هم وایي؟
-هو ، ویل یې:
اوس عزرایل راځي.
*******

۱۳-یو ډاکټر یو بېوزله وړیا وکوت او هم یې دوه سوه ډالره تر بالښت لاندې ورکېښوول. هغه ناروغ یې یوه میاشت وروسته روغ رمټ ولید. ناروغ غوښتل، د لاسونه یې ور مچ کړي، هغه ورته ویل:
- دا زما دنده وه !
- خو دا پیسې...
هغه څه ونه ویل، خو ناروع ور زیاته کړه:

په هغو پیسو یو پوه ډاکټر ته ورغلم او جوړ شوم !
*******

زه نور ساګخور( وجیترین ) کېږم !
ولې، ډاکټر درته وویل چې غوښه مه خوره؟
نه، قصاب ویل، نور په پور غوښه نه درکوم !
*******

د یو سړي میرمن اومیدواره وه، ډاکټر تر سونو ګرافۍ
وروسته ور ته وویل:
ـ مبارک بچی دی لور ده !
هغه په خوشالۍ و پوښتل:
نوم یې څه دی ؟
*******

یو ډاکټر له یوه لېوني وپوښتل:
ته یې ولې راوستې؟
هغه ورته وویل:
ما ویل تاري جرابې ښې دي او نورو ویل نیلوني.

ډاکټر: دا خو دومره خبره نه ده، زه هم وایم تاري جرابې ښې دي !
لېونی: له اندې( سوس ) سره یې خورې یا باټېنګنو (کېچپ ) سره؟
*******

یو سړی وازده( وازګه ) درلوده، ډاکټر ورته وویل: د ورځې دوه کیلومتره ځغله !
تر یوې میاشتې وروسته یې ډاکټر ته ټیلیفون وکړ: اوس پولې( سرحد ) ته ورسېدم، څه وکړم؟
*******

ډاکټر یو سړي ته پینسلین ورکړه او ترې یې وپوښتل:
تا مخکې پینسلین و هلې دي؟
- هو !
تر پېچکارۍ وروسته هغه بېسده شو چې پر سد راغی، نرسې و پوښت:
تا ویل ما پرون پینسلین وهلي دي.

-هو ، پرون هم همد غسې شوم.

*******

يو ناروغ له مېرمنې سره ډاکټر ته تللی وو ، ډاکټر ورته وويل:

ده ته ښه سبا ناری او د وريتې(کباب ) غرمنۍ ورکوه ، تنګوه يې مه، که نه له لاسه وځي. په لار کې مېره مېرمن وپوښتله:

ډاکټر څه وويل ؟

-هغه ويل: ته مړ کېږې !

*******

يو زوړ سړی چې عمليات شوی وو ، د ريکورۍ له کوټې يې ټولخونې ته راوست. هغه شکر وکړ چې په خير خلاص شو. څنګ ته هلک ترې وپوښتل:

هغه زما په نس کې د جراحۍ چاړه هېره کړې وه او زه يې بيا دويم وار عمليات کړم !

زاړه سړي ورته وويل:

-د هېښتيا خبره ده !

هغه بیا وویل:
زه یې درېیم وار بیا عملیات کړم، داخل یې سپنج
هېر شوی وو !
- خطرناکه ده !
په دی وخت کې جراح دروازه پرانېسته او ویې ویل:
زما خولۍ مو نه ده لیدلې ؟
زوړ سړی بېسده شو.
*******

ډاکټر خپل هغه ناروغ ته چې یوه پښه یې په
عملیاتو کې ور پرې کړی وه، وویل:
یو بد خبر او یو ښه خبر !
بد خبر دا دی چې موږ غلطه پښه پرې کړې ده او ښه
خبر دا چې بله پښه مو هم د درملنې وړ ده !
*******

-یو ډاکټر یو لېونی سینما ته بوت، هلته پر څوکۍ
لیکلی وه: دا نوې رنګ شوې ده !
لېوني یوه ورځپاڼه پر هغه واچوله او کښېناست.

- ولې دې دا ورځپانه پر څوکۍ واچوله ؟
- چې لږ جګ شم او پرده ښه ووینم !

*******

یو د دماغي روغتون له سکرتر نه وپوښتل:
- په لسمه خونه کې څوک اوسېږي؟
-هغه تشه ده.
- نو زه باید وتښتم.

*******

اسحاق له مېرمنې سره ډاکټر ته ورغی. هغه خوب نه درلود ، لوهه( اشتیا )یې نه لرله او تل به عصبي وو.
- څه خبره ده ؟
ما له جان نه زر ډالره پور کړه او بیرته یې نه ور پرې کوم !
ډاکټر ورته وویل:
جان ته تیلفون وکړه چې ستا پیسې بیرته نه درکوم، نور به هغه اند ېښنه کوي !

*******

-يو سړي د زړه پيوند ته اړتيا درلوده، هغه ته يې وويل:
د ډاکټر زړه لس زره دئ، د يو مسلمان زړه شل زره او
د يوه وکيل زړه پنځوس زره دئ.
- د وکېل زړه ولې دومره ګران دئ؟
زړه لرونکی وکيلان ډير کم پيدا کېږي !
*******

يو هلک يوه ايکۍ تېره کړی وه، مور يې د مرستې
لپاره ناري کړه. يو سړی راغی، هغه يې سر پر ځنې
کړ، پر شا يې يو سوک ورکړ او ايکۍ يې له خولې را
وغورځېده.
مور يې ورته وويل: مننه ډاکټر سايب !
زه ډاکټر نه يم، د کورني ايرونود چوپړ (داخلي
عايداتو دخدماتو) کارمند يم.
*******

د دوو ډاکټرانو شخړه وه. د روغتون مشر راغی،
هغوی يې سره جلا کړه:

- څه خبره ده؟

- دروغتون د کورني ايرونو د چوپړ (داخلي عايداتو دخدماتو) کارمند دوې ورځې نور ژوند کولای شي .

- دا بايد هغه ته وويل شي.

خو زه غواړم، دا خبر پرې وکړم ، دی مې نه پرېږدي !

*******

ناروغ يې له کتنځيه کور ته راوست، ميرمنې ته يې وويل: ډاکټر زما د درد په اړه څه ونه ويل؟

هغه ويل:

دا کومه غټه خبره نه ده، لږ بې سېکه شوی يې ،بايد لږ غښتلی شې !

مېړه يې ورته وويل:

نو هغه پسه حلال کړه او کباب يې کړه چې متره واخلم !

مېرمنې يې ورته وويل:

- نه بابا ، هغه مې ستا د لاسنيوې( فاتحې ) لپاره اخېستى دى !

*******

-

د غاښو ډاکټر خپلې ناروغې ته وويل:
اوس يوه سوې کرېږه وکړه؟
هغې ويل زه نه يم خوږ شوې، ولې چغه وکړم !
هغه ور زياته کړه:
زه پوهېږم، خو زما ځارخونه له ناروغانو ډکه ده.
زه غواړم هغوى وتښتي. ځکه زه غواړم، د ځلورو بجو د فوټبال لوبه وګورم !
*******

ډاکټر يوې ښځې ته وويل:
ته په نري رنځ اخته يې، هغې چغې کړې او ويې ويل، زه باور نه کوم.

ډاکټر وویل:
او بل دا چې ته بد رنګه هم یې !
*******

زما زوی ډاکټر پیدا شوی دی، ځکه لیک یې نه لوستل کېږي.
*******

۳۱-ډاکټره ! زه **۵۹** سانیې ژوند لرم.
ډاکټر: یوه دقیقه وار وکړه !
*******

ډاکټر سایب زما زوی پټری وخوړله !
ډاکټر وویل:
- زه در رسېږم، بل کوم شی لرې؟
- هو بریښنا ماشین لرم.
*******

ډاکټر صایب ! زه دوه ډوله شخصیت لرم !

ډاکټر نرسې ته وویل:
بله څوکۍ هم ورته راوړه !
*******

ډاکټرسایب زه د ازموینې په وخت کې وېرېږم !
- اند ېښنه مه کوه ،اخېر به یې پاس کړې !
- زه خو د ګاډي د ازموینې ښوونکی یم !
*******

ډاکټره ! زه سوچ کوم، چرګه یم.
-دا سوچ درسره ترڅو پورې وي؟
- تر هغه چې هګۍ واچوم !
*******

هغه وخت چې ډاکټر له عملیاتخونې نه
راووت، یو مېړی یې ولید او ده ته یې ته وویل:
- زه راغلی یم، که اړتیا پېښه شوه، پیل ته وینه
ورکوم
*******

ډاکټره ! د ډېر توند باد لپاره څه ښه دي؟

-کاغذ باد.

*******

ډاکټره ! خلک وايي، ته ګاډی يې !

- نوپام کوه، پورې دې و نه وهي !

*******

ډاکټر نرسې ته وويل:

هغه ناروغ چې پرون عمليات شو ، د هغه په نس کې مې بياتي او پېنس پاتې شوي دي چې مړ شو ، له نسه يې راوباسه !

*******

يو سړي خپله خوابنې ډاکټر ته راوستله:

- دې زهر خوړلي دي.

نو ولې يې مخ داسې په وينو سور او لېت پېت شوی دی؟

په خپله خوښه یې نه خوړل !

*******

# کارمندان

یو بهرنی خبر یال ایران ته ولاړ، هلته خلکو څانونه،
سرونه او ټټرونه وهل.
هغه وپوښتل:
دا خلک ولې څانونه وهي؟
- خوارلسم امام يې مړ شوی.
- ما خو دا خبر نه دی اوريدلی !
-هغه( ۱۴۰۰ ) کاله مخکې مړ شوی دئ.
-آه ! دوی ته خبرونه څومره ناوخته رسېږي !
*******

یو تن د ښارګری سروال لپاره ازمېښت کیده. هغه يې
وواهه. خو هغه راز ونه وايه. بی خوبه يې کړ ، رازيې ونه
وايه. مخ ته يې د هغه ماشومان ووهل ، زاريې ونه وايه.
بیا يې هغه په یوه خونه کې واچوه، هغه خپل سرسر واهه
او ويل يې هغه راز څه وو؟

*******

یوه ښځې ملا ته وویل:
- ما ته زوی په ناسته زده کړه!
هډبنډه ده، ښوونکی سړی ووایه؟ او ته دی وژي؟
هو، خو زما ناسته ښه نه ده.

*******

یو کارګر له خپل سروال سره د ګولف لوبه کوله او هر وار به چې هغه لړې توپ وغورځاوه، سپي به یې په دوو پښو کښېناست او چکچې به یې کړې.
کارګر وپوښت چې ته یې بایلې، بیا سپی څه کوي؟
- چې لنډ شارټ وکړم یا شارټ غلط شي، هغه بیا سرکوندې (ملاق) وهي!
- څو وارې؟
- دا دلغتې په زور پورې اړه لري.

*******

یو مېلمه پال( ګارسیون) یوې خونې ته ورغی، هلته یوه جوړه ناسته وه.
-ستاسې کوم شی په کار نه دی؟
- نه !
پر پالنګ (چپرکټ)یې یو ښکلی امېل ولید او بیا یې وپوښتل:
د مېرمنې لپاره مو هم کوم شی په کار نه دئ؟
-هو ، رښتیا د هغې لپاره یو پوستکارت راوړه !
*******

یو ښکاریې په کلي کې یوه هیلۍ وویشتله او هغه د یو چا پر ځمکه ولویدله، د ځمکې خاوند ورته ویل:
دا هیلۍ زما کېږي، ځکه زما په ځمکه کې لویدلې ده، د دوی دواړو شخړه شوه، په پای کې د ځمکې خاوند ورته وویل:
دلته دا دود او جال دی، ته ما په نس کې په لغته ووهه او زه به تا ، هر یوه چې ځان ټینګ کړای شو ، د ا هیلۍ د هغه کېږي.

لومړی وار ځمکیوال وکړ چې د ښکاري وار شو،
ځمکیوال ورته وویل:
واخله هیلۍ یې ستا !
*******

امریکایي ګرځندویان د لندن په وېستمېنستر کې
را ټول شوي وه. لارښود یوزوړ قبر ته لاس ونیو:
داد یو رښتیني سړي او یو وکیل قبر دی.
ګرځندویانو وویل:
آیا تاسو دوه سړي په یو قبر کې ښخوئ؟
*******

دوه کسه په جواریخونه (خمارخونه) کې ولاړ وه،
یوه ښځه راغله او ویې ویل:
زه پر یو وار (۲۵۰۰۰ ) ډالره ږدم او چې زه ځان لوڅ کړم
زما بخت را ویښېږي او تاسو را سره مرسته وکړئ
چې زه لوڅه شم !
هغه لوڅه شوه او دایس یې ښکېل کړاو ویې ویل:
ما یوړه پیسې یې را ټولې کړې او ولاړه.

هغو دو تنويو بل ته ويل، هغې څه شي راوستله؟
- ما هغې ته کتل ما سوچ کاوه چې ته میدان ته ګورې !
*******

-يو کارمند څو ورځې کار ته نه راغی ،نو سروال ترې وپوښتل:
ولې دا څو ورځې کارته نه راغلې؟
کارمن ورته وويل:
پلار مې مړ وو.
نو ولې دې ټول بدن داسې ټپي ټپي او ټوک ټوک شوی دئ؟
کارمن ورته وويل:
هغه د ښخولو په وخت کې ډير ځان خری کړ !
*******

يوه شپه د يو چا د کور ور وټکېده ،هغه وپوښتل:
څوک يې؟

- دروېزګر يم !

- په دې نیمه شپه کې څه کوې؟

- هغه ورته وویل:

- سرباري(اضافه کاری ) کار کوم.

*******

یو پک د ډم دوکان ته ورغی، ټول ناست خلک پر خندا شول.
هغه وویل:
ولې خاندئ، زه اوبه څښم !
*******

ډم یو سړي ته چې ږیره یې و خرییله وویل:
ما ستا ږیره مخکې خرییلې ده؟
هغه ورته وویل:
نه، دا د مخ ټپونه د جنګ له وختو پاتې دي !
*******

يو سړی هره ورځ د کلپورو رستورانت ته ته، خو نن يې ډير انتظار وکېښ. د تلو په وخت کې يې ورته وويل:
نن لکه چې بيروبار دئ، کلپورې دې هم کوشنۍ رااستولې وې!
چکچلان ورته وويل:
هره ورځ غوا مړه کېده، نن د غوا سړی مړ شو، وبښه!
*******

يوه ښځه يوې مغازې ته ولاړه او هلته يې د ځان تلنې ماشين ته پيسې واچولې، ځان يې تول کړ، بيا يې کوټ وابست، بيا يې بوټونه او پتلون او ځان يې تول کړ، خو تورې پيسې يې خلاصې شوې. دوکاندار ورنارې کړل:
تر دې وروسته تولول وړيا دي!
*******

-یو خبریال ماجت ته ورغی، هلته خیرات وو، هغه په اریانی و پوښتل:
لمونځ چېرې کوئ ؟
- په پوهنتون کې !
- استادان چېرې دي؟
- په زندان کې !
- غله چېرې دي؟
- په دولت کې.

*******

- کوټ په وچولنځ(خشکه شویی) کې په دوه ډالره مه مینځه ،چارتي(ښمر ښبګڼې) ته یې ورکړه، هغوی یې پاکوي، په کوټبند کې یې اچوي او بیا یې په(۷۵ )پنسه پلوري.

*******

یو تن لس کارګران درلوده چې ټوله لټان وه هغه وغوښتل تر ټولو لټ پیدا کړی نو هغو ته یې وویل:
تر ټولو لټ ته جایزه ورکوم.

نه تنه و رمخی ته شول.
یو پر خپل ځای پاته شو.
- ته ولې نه راځی؟
د لاسه مې نه کیږی.
*******

دیوه ځراغ(ګروپ) بدلول په کلیفورنیا کې څو تنه غواړي؟
اووه تنه یو یې بدلوي او شپږ نور یې ازمايي.
*******

په نیویارک کې څو تنه یو ځراغ بدلوي؟
- څلور تنه.
یو یې بدلوي او درې یې امنیت نیسي.
*******

یو سړی یو بانک ته ورغی او د دوه زرو ډالرو پور یې و غوښت. بانک ترې ضمانت غوښت، هغه خپل رولس-رویس موټر په ضمانت کې ورکړ، بانک والا

موټر د بانک زرندی ته د ساتلو لپاره بوت او هغه ته یې ۲۰۰۰ ډالره پور ورکړ. درې اوونۍ وروسته هغه راغی، دوه زره ډالره یې د لسو ډالرو سود سره ورکړل او خپل موټر یې بوت.

د بانک والا ترې وپوښتل:

څرنګه دیوه داسې ګاډي خاوند دوه زرو ډالرو ته اړتیا پیدا کولای شي؟

هغه ورته وویل:

زه بهر تلم، ما نه شوکولای، د ګاډي لپاره پارک په لس ډالره پیدا کړم.

*******

یوه زړه ښځه یو بانک ته ورغله او غوښتل یې یو حساب پرانېزي. نو منیجر ته یې وویل:

زه غواړم یو حساب پرانېزم !

هغه ورته وویل: څومره پیسې پکې زېرمه کوې؟

هغې ځواب ورکړ:

درې میلیونه ډالره،

منیجر وویل:

-هو دا ډيرې پيسې دي !
آيا دا پيسې نغدې دي، که چېک؟
هغې ورته وويل:
نغدې، دغه دي، په دې تورو کڅوړو کې دي !
بانک والا ترې وپوښتل:
کولای شم، هغه وګورم؟
هغه ورته د پيسو تر ليدو وروسته وويل:
راځه ، له سروال سره دا خبره شريکه کړو !
نو هغه يې د سروال خونې ته له ځان سره بوتله او
سروال ته يې دا ټوله کيسه وکړه.
سروال له واره ځان سم کړ، د چايو او بيسکېټ
سپارښت يې ورکړ او ښځې ته يې وويل:
- ښښنه غواړم دا پيسې دې له کومه کړې دي؟
- په جوارۍ کې مې ګټلې دي.
- څرنګه جواري ؟
- شرط تړل.
له خلکو سره شرط تړم او هغه وړم. د ساري په توګه

ره تا ته وایم ستا خوټې تر سباغرمې پورې ځلور ګوټه کېږي، که ونه شوې، زه تا ته یو لک ډالره در کوم او که وشوې، ته به د هغه ځلورمه( ۲۵۰۰۰ ) ډالره راکوې !

سروال چې هر وخت په خپله خبره کې بند بده، هغې ته یې وویل:

دا ما ته سم کار نه برېښي، چې وله نه کیدونکی کار ه پیسې واخلم او دا ځانګړی شرط وګټم.

- که ته دا شرط له ما سره ونه ترې، زه به سوچ وکړم، دا بانک زما د پیسو لپاره ورړ نه دی.

سروال وارختا شو چې دا بیوپار له لاسه ورنه کړي او ویې وویل:

- زه پوهېږم ته شرط بایلې !

-ته ډاډه اوسه، زه پرخپل کار پوهېږم ،زه سبا پر دولس بجو راځم.

سروال ورته وویل: ډیره ښه.

سروال ټوله شپه په وینښه تیره کړه ، هر ګړی تشناب ته ته. هر شی سم وو.

سبا پر( ۱۱:۴۵ ) ښځه  له خپل وکیل سره د سروال دوتر ته راغله چې شاهد اوسي.

دولس بجې سروال ناري کړه: ما شرط یووړ !

ښځې ورته وویل:

ته پتلون کښته کړه چې مو ږ هغه وګورو !

هغې له کتلو وروسته وویل: هو ، سمه ده او یو لک ډالره یې د بانک سروال ته ورکړل.

وکیل پورته شو ، سر یې له دیواله واهه.

سروال (رییس ) ترې وپوښتل :

پر تا څه وشول؟

ښځې ورته وویل:

هغه آر( اصلي ) بایلونکی دی، ما له هغه سره یو میلیون ډالره شرط تړلی وو چې سبا پر دولسو بجو دبانک د سروال پرتوګ باسم.

*******

یو پوهنپال( محصل ) بانګ ته ورغی او له منیجر نه یې وغوښتل، د پیسود ورکړې وخت یې

وځنډوي. مېنېجر هغه ته لومړی د نه ځواب
ورکړ، خو د هغه په ډېر ټينګار يې ورسره د بلې
پرېکړې ژمنه وکړه.
ترې يې وپوښتل:
. زما يوه سترګه د ښيښې ده، که تا وويل کومه يوه
د ښيښې ده، زه به دا وخت در اوږد کړم !
هغه بې له ځنډه وويل:
- ستا کيڼه سترګه د ښيښې ده.
- ته لومړی سړی يې چې سم انګېرې.خلک سوچ
کوي زما ښۍ سترګه د ښيښې ده. ته څنګه پوه
شوې؟
پوهنپال ورته وويل:
هغه تر دغې بلې ډېره خواخوږي ښيي.
*******

يو سړی د بانک کړکۍ ته ودريد او هلته يې له يوې
ناستې ښځې وپوښتل:
زه غواړم يو مردار حساب پرانيزم !

ښځې ورته وویل:
څه دي وویل ؟
هغه وویل:
زه غواړم یو مردار حساب پرانېزم !
ښځې له کړکۍ نه د بانک سروال ته وکتل.
سروال هغې کړکۍ ته راغی، له سرې یې وپوښتل:
څه خدمت درته کولای شم ؟
هغه ورته وویل:
ما ته په لاترۍ کې ۵۰ میلیونه ډالره را وتلي دي.
غواړم یو مردارحساب پرانېزم !
سروال ورته وویل:
سمه ده. ښښنه غواړم که هغې مرداري درسره کوم ناوړه چلند کړی وي !

*******

یو کارګر ناوخته کار ته راغی. سروال ترې وپوښتل:
ته پوهېږې، څه وخت کار پیل کېږي ؟

نه صایب ! یو هم نه پوهېږي، هر یو له ما څخه همدا پوښتنه کوي.

*******

ښکلې امرې نوی کارمند را وغوښت او ویې پوښت:
تا په څرنګه بد ځای کې کارکاوه چې ټولو تا ته ستا په لومړي نوم ږغ کړ. ډېر بې ادبه امر مو وو، دلته مو ږ ټول په کورني نامه سره یادوو.
رښتیا ستا کورنی نوم څه دی ؟
-ډارلینګ !

*******

درې سړي یو د نبراسکا ، بل د واشنګټن او دریم د کلفورنیا سره رهي وه ،چې یو زړه لمپه یې ولیدله، هغه یې وموښله له هغې نه یو د پو را پورته شو او دوی ته یې وویل:
ووایاست څه غواړئ ؟
د نبراسکا سړی هغه ته ویل:

زه بزګر یم، زما پلار بزګر وواو زما زوی به هم بزګر وي، نو ما ته یو ه ښه ښیرازه ځمکه را کړه !
د پو و رته وویل:
دا مځکه یې ستا.
د کلیفورنیا د سړی وار چې را ورسید ، ویې ویل :
زه غوارم، د کالیفورنیا ځلورو خواوو ته یو د پوال را وځرخوې چې نور کډوال را نه شي !
د پو ورته وویل :
ستا غوښتنه ومنل شوه .
بیا وار د واشنګټن د سړی شو ، هغه وویل:
زه غوارم، لومړی د کالیفورنیا په اړه خبر تیاراکړې !
دیو ورته وویل:
د هغه ځلورو خواوو ته (۱۵۰ )ګزه اوږد او ۵۰ ګزه پلن د پوال راځرخېدلی دی !
هغه ورته وویل:
نو دا ټول له اوبو ډک کړه !

*******

یو کاناډایي په رخصتۍ کې فلوریډا ته ولاړ او د هغه میرمن د یوه کاروبار په موخه په میامي کې وه. هغه خپلې میرمنې ته یو برېښلیک (ایمېل) واستاوه، خو د هغې د پتې (ادرس) پاڼه ترې ورکه شوې وه. نو له زړه یې د هغې پته ولیکله. خو له بده مرغه یو توری یې غلط کړ او دا برېښلیک یوې زړې ښځې ته چې مېړه یې یو ورځ مخکې مړ شوی وو، ورسید. هغې چې خپل ایمېل چېک کړ، بېسده شوه. بیا یې ګرده کورنۍ د کمپوټر خونې ته راغله او دا پیغام یې ولید:

ګرانې میرمنې! ژر راځه هر شی ستا راتګ ته تیار دی!

یادښت: هوا سړه ده.

*******

د مایکرو سافت سروال بېل ګېټ مړ شو، هغه ته یو چانس ورکړ شو چې جنت او دوزخ ووینې او

بیا پربکړه و کړي. لومړی هغه دوزخ ته ولاړ ، هلته یې ښکلې نجونې ولیدلې چې نڅا کوي.
او بیا جنت ته ولاړ. هلته خلکو چپنې اغوستې وې. هارف (د موسیقی اله) یې رږغوله او خلک پر وریځو سپاره د ښخوا ها خوا تلل راتلل.
نو هغه دوزخ خوښ کړ . درې اوونۍ وروسته تري وپوښتل شوه: دوزخ ښه ځای دئ ؟
هغه په خوابدۍ وویل:
- بد ځای دی.تودوخه ۲۰۰ درجې ده، یو بل ډول موزیک دئ او دلته ډول ډول ځناور دي.
-کومې دي، هغه باکرې ښکلې نجونې ؟
هغه ته وویل شول:
- هغه یوازې یو اعلان و.

*******

# سوداګر(تاجران)

په آذربایجان کې پتلونونه ارزانه شوی وه، ځکه زنځیرونه یې تر شاګنډل شوی وه.

*******

یو سړي چې لوټونه یې چاپول، ونیول شو، په زندان کې یې یو بل سړی ولید چې هغه هم په همدې ګناه بندي شوی وو.

هغه ورته وویل:

ما د سل ډالري نوټونه چاپول چې له شپږو میاشتو وروسته ونیول شوم. هغه بل ورته ویل:

ته خو لا ښه یې! ما اویا ډالري نوټونه چاپول، پر هغه لومړۍ ورځ ونیول شوم.

*******

یو سړی یو دوکان ته هره ورځ ورته او پوښتل یې(۷۰ )پوره کېک لرې؟
اخیر هغه دا ۷۰ پوره کیک پوخ کړ هغه بیوپار چې راغی دوکاندار ته یې وویل:
(۷۰ )پوره کیک لرې؟
دوکاندار په خوښۍ ورته وویل:
هو،
هغه ورته وویل:
له ۲۴ پوره یې سل ګرامه راکړه !
*******

بیوپار و دوکاندار ته:
-صابون لرې؟
-هو
-لاس پریوه او ماته یو خورد پنیر راکړه !
*******

کله چې (کې ایف سي ) د پلورلو عاید ډېر لږ شول، نو سروال یې د اعلان یوه ښه اډانه(طرح )را منځ ته کړه .هغه له پاپ سره اړیکی ونیو چې که هغه دا جمله «موږ ته راکړه، د نن ورځې زموږ ډوډۍ» پر« موږ ته راکړه، دنن ورځې زموږ چرګوړی» بدله کړه، نو هغه به یو لک ډالره کلیسا ته بسپنه ورکړي.
پاپ ورته وویل:
-دا ناشوني ده !
شپږ میاشتي وروسته د( کې ایف سي )بازار نور هم کوټه شو.
د( کې ایف سي ) سروال بیا پاپ ته یو بل وړاندیز وکړ:
دی به د دې ویناد تبدیلۍ په پار کلسیا ته پنځه لکه ډالره بسپنه ورکړي.
بیا هم پاپ دا وړاندیز رد کړ.
شپږ میاشتې نورې تیرې شوې او هره ورځ د (کې ایف سي) بازار سړېده، نو سندرز بیا یو بل وړاندیز پاپ ته وکړ:

زه به پینځوس میلیونه ډالره بسپنه درکړم که دا کلام تبدیل کړی !
پوپ ورته وویل:
-دا ډیرې پیسې دي.
-ښه نو زه به له کاردینالانو سره په دې اړه سلا مشوره وکړم.
هغه له کاردینالانو سره یوه غونډه ونیوله او هغو ته یې وویل:
زه تاسو ته یو بد خبر او یو ښه خبر لرم.
ښه خبر دا ده چې (کې اېف سي) پنځوس میلیونه ډالره موږ ته بسپنه راکوي. او بد خبر دا دئ چې د وندر برید (د ډوډۍ) کمپنی د بانک حساب نور پای ته رسي !

*******

یو سوداګر خپل کورته تیلفون وکړ ، یوې نابلدې ښځې غږ یې واورید.
- ته څوک یې؟

- زه مزدوره یم.
- موږ مزدوره نه لرو.
- زه نن سهار مېرمنې پر کار وګومارلم.
- زه د هغې مېړه یم. هغه په کور کې ده؟
هغې له لږ چوپتیا وروسته ورته وویل:
هغه.. زه سوچ کوم د خوب په خونه کې له خپل.... مېړه سره ده.
سوداګر هېڅ سوچ نه کاوه، نو مزدورې ته یې وویل:
- ته غواړې پېنځوس زره ډالره ولرې؟
- ولې نه!
- نو ښه غوږ ونیسه، ورشه د کتابو په خونه کې د الماری په روک کې تمانچه را واخله او دواړه ووژنه! پوه شوې؟
هغې ورته وویل:
هو،
غوږی یې همدا سې کېښوووله.
هغه ورته غوږ نیولی وو چې دوې ډزي وشوې.
مزدورې بیرته د تیلفون غوږی پورته کړه او سوداګر ته یې وویل:

- اوس د هغو پر مړو څه وکړم؟
- هغوی لمباځي ته وغورځوه !
- کوم لمباتځی، دلته خو کوم ډنډ نشته !
آیا دا 366-2940 لمبرنه دی؟
نه !

*******

# لېږندويي(ترانسپورت)

يو غوښتل  يوه سمندري بېړۍ ډوبه کړي،
دهغه ور يې وډباوه او پخپله وتښتېد.

*******

-ديو چا موټر وران شوی وو، هر چا نظر ورکاوه
، يوه کمپيوټر پوه ورته وويل:
ټوله يو وار له ګاډي کوزاو بيا  بيرته ور پورته
شئ.

*******

پوليسو يو موټر وان ته چې ژغور ملابند يې
تړلی وو، پېنځوس زره ډالره جايزه ورکړه او
ترې يې وپوښتل:
په دې پيسو څه کوې ؟
هغه ورته وويل: ځم د موټر ليسنس اخلم !
په ګاډي کې ورسره هښځې وويل:

دی چې نشه وي، بيا داسې اپلتې وايي.
يوې بلې سپرلۍ ناري کړه: د غلا ګاډی دی،
تښته!
له ټول بکسه يوه ناري کړل:
تر پولې تېر شو؟
*******

يو ترهګر يوه پيلوټ ته ورغی او ورته يې
وويل:
فرانسې ته ولاړ شه!
هغه ورته وويل:
ته خو وسله نه لرې!
ترهګر ورته په غوسه وويل:
چې ستاسې پر سر وسله ونه نيسي، د انسان په
خوله نه ځئ!
*******

**۵**-یو چلوونکي په پارک پسې ګرځېد او همدا دعا یې کوله که مې پارک پیدا کړ، خیرات او نفلي لمونځونه کوم.

په دې وخت کې یو ګاډی ووت. ده په خوشالۍ وویل:

هغه دی، ما پخپله پیدا کړ!

*******

په یوه ګاډي کې درې سپرلۍ سپرې وې.

یوې ناریې کړل:

- زه کوزېږم!

چلوونکي ورته وویل:

ستا چلول زده دي؟

هغه وویل:

- نه!

چلوونکي ګاډی ونه دراوه.

بیا بل ورته وویل:

زه کوزېږم !
موټروان ترې وپوښتل:
ته ګاډی لرې ؟
هغه ورته ځواب ورکړ:
- نه !
چلوونکي هم ګاډی ونه دراوه.
بیا دربیم سړی و رته وویل:
زه دلته کوزېږم !
هغه ترې وپوښتل:
ته ګاډی لرې؟
هغهوویل:
- هو !
چلوونکي ترې په خوشالۍ وپوښتل:
نود موټر برېک چېرې دی؟
*******

یوه الوتکه راپرېوته، ځکه یوه عراقي د پیلوټ ستر ګې نیولې وې او هغه ته یې ویل:

زه څوک یم؟

*******

په ګاډي کې یو سړی لاس تر ملا نیولی ولاړ وو، په ګاډي کې بیروبار وو، یو بل سړي ورته وویل:
وروره، لږ سره ټول ودرېږه!
هغه و خپل اړخ ته وکتل او ناري یې کړې:
نالت دې وي پر هغه چا چې زما هندوانه یې وړې ده.

*******

یو ټکسي وان جنت ته ولاړ او هلته یې د یو غټ کشیش ځای هغه ته ورکړ، او کشیش یې بل ځای ولېږه. خو کشیش نیوکه وکړه. هغه ته وویل شول: کله چې تا وعظ کاوه، ټول خلک به ویده وه او کله چې ده ګاډیواني کوله، ټولو خلکو به دوعا کوله!

*******

یو الوتکه پر هدیره را ولیده تر اوسه یې (۵۰۰۰) تنه مړي له مځکې را ایستلي دي.

*******

څو تنه په یوه لېفتي کې ولاړ وه او نه پوهېده هغه څرنګه چالان کړي.یو سړي راغی سوچ ته یې ګوته وروړه لفت چالان شو. ټولو ورته وویل:
مننه لېفتوان صایب !

*******

عزرایل ماکسیما رانیوله.
- دا پیسې دې له کومه کړې ؟
- د بم له سرباري کاره مې لاس ته راوړې.

*******

یو تن یوه الوتکه یرغمل کړه، پیلوټ ته یې وویل:
په لندن کې کښېوځه !
هغه ویل:
- نه کښېوځم !
-په دوبی کې کښېوځه !
-نه کښېوځم !
- نو اجازه راکړه، یو هارن خو ووهم !

*******

یو نفر د ټکسي دروازه سخته ووهله او ویې ویل:
ستا دي هم پر پلار نالت شي !
هغه ورته وویل:
- ولې کنځلې کوې؟
- ترټک وروسته مې د کنځلو ځواب درکړ !

*******

درې هندوان امریکا ته تللي وهل. په الوتکه کې یې ورته د ډکولو لپاره فورمې ورکړې. یوه هندو د سېکس په خانه کې ولیکل: نو(نه)
دویم هندو ولیکل:
په کوچنیوالی کې یو وار: یس
دریم هندی ولیکل:
هو کې.
مېلمه پالې ترې وپوښتل:
یانې څه ؟
هغه ورته وویل:

-تو پیر نه لري دواړې ډلې مې خوې دي !
*******

ولې دې د ګاډي پر شا لیکلي دي، خدا با نوشابه است؟
نوروهر چا لیکلي ،خدا با ماست.
*******

یو تن د بس ګاډی شل ټکټه اخیستي ول او ګاډیوان ته یې ویل:
موټر دربس دی !
*******

یو سړي د جنګ ګاډي (وان) په شا کې وزه اچولې وه، خو هغې ژړل، بیا یې مخې ته راوستله ،بیا یې هم ژړل.
- ولې ژاړی؟
- له ډیرې خوشالۍ نه !
*******

د الوتکې پیلوټ اعلان وکړ چې دا زما وروستۍ الوتنه ده، که غواړئ، زه به یو اکروبات د رته وښیم؟
ټولو قبوله کړه نو پیلوټ الوتکه نسکوره او بیرته راسمه کړه. ټوله خوشاله وه، خو یو قارورړی برېښېد.
-ولې ؟
-که ته هغه وخت په تشناب کې وای، همدا اسې به قارورړی وای !

*******

یو سړی ګاډي ته وخوت او وېې ویل:
لوی جان ټېکټ نه اخلي !
هره ورځ به چې موټر ته راوخوت او همدا یې ویل.
ګاډیوان څو نفره پلټونکي خبر کړل.هغوی په ګاډي کې ناست وه چې بیا هغه راوخوت او ویې ویل:
لوی جان ټېکټ نه اخلي !
یو پلټونکي وویل:

ته جریمه یې، ولې ټېکټ نه اخلې؟
هغه ورته وویل: لوی جان پاس لري، نو ځکه ټېکټ نه اخلي !
*******

پر یوه پله لیکل شوي وه، ګاډی باید تر اته فوټو پلن نه وي.
چلوونکي د ښخوا هاخوا وکتل او ویې ویل: پولیس نه شته او پرې روان شو.
*******

یو سړي غوښتل، په اورګاډي کې سفر وکړي. د دالان (هال) په ګړۍ کې لا پینځه دقیقې پاتې وې، نو دی ولاړ چې یوه ورځپاڼه رانیسي، خو چې راغی اورګاډی ترې تېر شوی وو. بلې ګړۍ ته یې وکتل، لس دقیقې یې له لومړۍ هغې سره توپیر درلود، نو مېښبجر ته یې پلپوټ( شکایت ) وکړ.
هغه ورته وویل:

که ټولې کړی یو ډول وای، نو دوو کړیو ته څه اړتیا وه.

*******

الوتکه د لویدو په حال کې وه. خلکو له ویرې چغې وهلې خو یو کس ارام ناست وو. یو چا ورته وویل:
الوتکه لوېږي، ته ولي ارام تاست یې؟
هغه ویل: الوتکه خو زما نه ده !

*******

یو پراشوټ والا له الوتکې نه را ټوپ کړ، خو پراشوټ یې بیرته نه شو. هڅه یې کوله، د ځمکې خوا ته خپل پراشوټ ور سیخ کړي. له یو بل پراشوټ والا یې چې د ځمکې پر لوري یې پراشوټ سم روان وو، وپوښتل:
- ته د پراشوټ په اړه په څه پوهېږې؟
هغه ورته وویل:
- نه !
هغه ترې بیا وپوښتل:
- ته د ګازي تودنۍ ( بخارۍ ) په اړه څه پوهېږې؟

*******

دوو ګاډي چلوونکيو سره ټکر وکړ. يو ه له خپل جيبه د شرابو بوتل راوېست او بل ته يې وويل:
راځه يو غړپ ويسکي سره وڅښو !
چې اعصاب مو ارام شي.
هغه بل ورته وويل:
- مننه !
هغه هم له جيبه يو بوتل راوېست او يو غړپ يې ترې وکړ.
هغه ورته وويل:
-دا دی،ته يې هم لرې؟
- هو مګر زه نور نه څښم، ځکه اوس پوليس رارسېږي.
*******

يو لاروی زما له ګاډي سره ټکر وکړ او ترې لاندې شو.
*******

درو انجينرانو او درو شمېرګرو( محاسبانو ) په يوه اورګاډي کې سفر کاوه، يوه شمېرګر وويل:
د اټېکټ يې څومره ګران دی !
يو انجينر په خندا ورته وويل:
-موږ هر وخت درې تنه په يوه ټېکټ سفر کوو کله چې چيکوونکی راشي، موږ درې سره پر تشناب ننوځو او هغه چې ور راوټکوي ، موږ يو ټېکټ ورښکاره کوو !
شمېرګر په هېښتيا وويل:
-ښه، نو داسې !
بل واری محاسبه کوونکو په درو کسو يو ټېکټ واخيست او انجينرانو بيا هيڅ ټېکټ وانه خيست د چيکوونکی درسيدو سره سم دواړو ګروپه په منډه منډه په دوو تشنابو ننوتل او ورونه يې وتړل. په دې کې له انجينرانو نه يوه د شمېرګرود تشناب ور ور وټکاوه او ويې ويل:
- مهرباني، ټېکټ مو راکړئ !
*******

جان لومړی له الوتکی نه ټوپ وواهه، بیا یې
ښوونکي ځان راوغورځاوه، خو پراشوټ یې بیرته نه
شو، نو ښوونکی له چان نه تیر شو. داود چې
دښوونکي تړلی پراشوټ ولید، هغه هم خپل
پراشوت بند کړاو چغه یې کړه:
ښه نو، ته د چټکتیا لوبه کوې؟
*******
یو ترافیک یوه کشیشه چې دموټرچټکتیا یې (۲۵)
مایله وه، ودروله:
دلته تګ(۲۵)مایله دی او ستا دا(۲۵) مایله دی:
دا خطرناک کار دی، چټکه شه!
- ښښنه غواړم، پر هغه دره لیکل شوي دي، له (۲۲نه
تر ۳۰)!
ترافیک ورته وویل:
- دا د چټکتیا دره نه ده،د سړک نوم دی!
ترافیک د موټر په شا سیټ کې دوې نورې کشیشې
ولیدې چې له وېرې رېږدي.

ترافیک وویل:
- پر دوی څه شوي دي ؟
- موږ اوس له (۱۱۹) سړک څخه را وګرځیدو !
*******

:یو د یوګو (یوګوسلاوي ګاډي) چلوونکي د سړک پر غاړه د رول-رویس چلوونکي ته وویل:
- یه اندېیواله ! دا ښه ګاډی دی. په دې کې ټېلېفون شته؟ زه یې په خپل یوګو کې لرم !
- هو زه ټیلفون لرم.
- یخچال پکې هم لرې ؟زه یې لرم !
- هو زه یې هم لرم.
- تلویزون لرې؟
- هو لرم.
-آیا بستر لرې؟
- نه ،بستر نه لرم.
رول-رویس ګاډي وان ولاړ چې په خپل ګاډي کې بستر جوړ کړي. بله ورځ بیا له یوګو ګاډي سره نژدې

وډرېد او هارن يې وواهه. د يوګو چلوونكي لوند سر له كړكۍ و اېست او هغه ورته وويل:
-زه په ګاډي كې بستر لرم.
هغه ورته وويل:
ودرېږه چې زه شاوروكړم بيا راته ووايه !
*******

كله چې پاپ د ايرلېند په مركز ډوبلين كې كښته شو. ړومبی كار يې چې وكړ، پر ګونډو شو او خاوره يې ښكل كړه.
زه هېښ پېښ شوم او له يوه ننداره چي مې وپوښتل:
پاپ ولې دا كار وكړ؟
-ته به هم دا كار وكړې، كه له ايټاليا نه تر دې ځايه سم (خوندي) را ستون شې !
*******

يوه ښځه چې لومړۍ الوتنه يې وه، يوې غټې كړكۍ ته پر يوه ارامه څوكۍ كښېناستله چې د

سګرېټ د نه څکولو برخه وه. چې الوتکه ډکه شوه، يو نفر راغی او ورته يې وويل:
- دا زما ځای دی !
تر ډېرو خبرو اترو وروسته هغې ويل، زه دا ځوکۍ نه خوشې کوم.
سړي ورته وويل:
ښه، که ته دا ځوکۍ نه راکوې، نو ته الوتکه وچلوه !

*******

يو زوړ سړی او يو کشيش سره څنګ تر څنګ په الوتکه کې ناست وه ، خو د تخنيکي نيمګړتياوو له کبله الوتکه وځنډېدله، نو پيلوټ د ځنډ په پار اعلان وکړ چې ټولو سپرليو ته د ښښنې په توګه يو وړيا شراب و رکو ي.
چې الوتکه والوتله، يوه ښکلې مېلمه پاله له يوې ګاډۍ سره چې شراب پکې وه، را غله.
زاړه سړي ويسکي او سوډا وغوښتل.

بیا یې کشیش ته وویل:
ته څه غواړې ؟
هغه ویل:
- د بدلمنۍ ګناه تر شرابو ډېره ده !
زوړ سړی دوه زړی شو او خپل شراب یې بیرته په ګاډۍ کې کېښوول او ویې ویل:
زه نه پوهېدم چې دلته غوراوی (انتخاب)هم شته !
*******

یو بزګر او میرمنې یې پتېیلې وه چې په الوتکه کې چکر ووهي،نوله پیلوټه یې پرله پسې پوښتل:
یو چکر په څو راکوې ؟
هغه ورته وویل:
۱۵۰ډالره !
بزګر ورته ویل:
دا ډېرې پیسې دي، زه یې نه شم درکولای !
پیلوټ د هغه ډېره لېوالتیا ولیده او ورته یې وویل:

زه دې بیا یم، په یو شرط که دې په هوا کې خبرې ونه کړې، زه دي وړیا بیایم که دي خبرې وکړي، نو (۱۵۰ )ډالره به راکوې !
دوی دواړو دا ومنله.
پیلوټ الوتکه پورته او کښته کوله چې بزګر لږ ووېروي، کله چې هغه تا شو پیلوټ ترې وپوښتل:
- خوند یې درکړ؟
- ډېرخوند یې وکړ.
پیلوټ ورته وویل:
ته ډېر زړ ور یې چې یوه خبره دې هم ونه کړه.
بزګر ورته وویل:
کله چې مې میرمن له الوتکې نه ولوېدله، نژدې وه چې چغه مې له خولې ووځي !

*******

# وکیلان

یو سړي خپل وکیل ته وویل:
ما وسوځه اوبیا زما ایرې د کالیو په مغازه کې وشینده. نو هرو مرو مې لور په اوونۍ کې دوه واره لیدن ته راځي.

*******

سلاکار یا مشاور هغه دی چې ستا له لاسه ګړی واخلي او درته ووایي څو بجې دي؟

*******

یو چلوونکي غوښتل ، یو وکیل چې پر سړک رهي وو ، مړ کړي، خو دا چې کشیش ورسره سپور وو ،نو

له هغه نه يې ګاډی لږ چپ کړ، خو کله چې ترې تېر شو، هغه يې مړ وليد، نو کشيش ته يې وويل:
- وبښه !
کشيش ورته وويل:
ستا ګناه نه وه، ما هغه په دروازه مړ کړ !

*******

د وکيلانو يو ډک ګاډی تر يوه ګړنګ لاندې ولوېد. خو يو بد خبر دا چې يو سيټ يې تش وو.

**۵**-د يوه سړي ګاډی په پاڼو، ښاخو او ختو او وينو ککړ وو او ويل يې ما له يوه وکيل سره ټکر وکړ !
- نو ولې دې ګاډی دومره چټل دی ؟
هغه مې په ځنګله کې پسې اخېستی وو !

*******

يو سړی د مړينې پر وخت په درو پاکټونو کې يو، يو لک ډالره واچول، يو يې ډاکټر، بل يې شمېرګر او

دربیم یې خپل وکیل ته ورکړ چې ترمړینې وروسته یې په تابوت کې ورسره کښېږدي.
درې میاشتې تېرې شوې، دا درې سره یو ځای شول ډاکټرویل ما ترې شل زره وا خېستې او شمېرګر ویل، ما ترې پنځوس زره ؛ وکیل ورته وویل: تاسو ورسره خیانت کړی دی ،زه هغه مهال پیسو ته خوراار وم ، نو دنغدو پر ځای مې چیک ورته کېښووه !
*******

# ليکوالان، شاعران...

-يو سړی له بوزرنه وپوښتل:
پوهنه ښه ده که شتمني ؟
- پوهنه !
-ولې؟
- پوهان د شتمنو چوپړ کوي.
بوزر وويل:
پوهان د خپلې پوهنې په وسيله د شتو پر ارزښت پوهېږي
او شتمن د خپلې نا پوهۍ له کبله د پوهنې پر ارزښت نه
پوهېږي.

*******

- يو فرانسي پوهاند له يو بېدين سره خبر اترې کولې.
فرانسي و ويل:
نن پوه شوم چې د فيثاغورث ليدتوګه رښتيا ده !
- څرنګه؟

- هغه ویل د انسان اروا تر مړینې وروسته د ژویو پربدن ننوځي. زه اوس پوه شوم چې د ژویو روح بیا پر انسانانو ورننوځي.

*******

یو فیزیک پوه د خپل خوابنې نوم مریخ ته د تلونکو خلکو په نوملړ کې لیکلی وو، دوستانو یې ترې وپوښتل:

آیا هغه په دې سفر خوښه ده؟

هغه وویل: د پوهې او بشریت لپاره باید همداسې یوه بلهاري پر ځان ومني!

*******

یوه کره کتونکي پر یوه ځوان لیکوال لیکلي وه، نو لیکوال د هغه په ځواب کې ولیکل:

تا چې تر اوسه یوه لیکنه هم نه ده کړې، نو څرنګه د نورو پر لیکنو نیوکې کوې؟

هغه ورته وليکل: زه چرګه نه يم چې هګۍ واچوم، خو ترهرې چرګې نه ډير ښه د هګيو د خاګينې په خوند پوهيږم !

*******

په يوه غونډه کې يوه شاعر ته وويل شول، يو شعر ووايه !
هغه له دود سره سم وويل:
نه پوهيږم څه ووايم؟
شيخ الملک ورته وويل:
لمونځ ووايه !

*******

يو شاعر د تربيون شا ته ودريد او نارې يې کړې:
زه درځم ،زه درځم خو نور يې له ياده ووتل او پښه يې وښويېده له او پر يوه زاړه سرى ور ولېد. له هغه يې ښښنه وغوښته، هغه ورته وويل:
ګناه زما ده تا وويل: درځم، درځم خو ما هغه جدى ونه ګڼله !

*******

یو سوداګرد تلویزون سروال شو د اذان په منځ کې یې اعلان ورواچاوه.

*******

یو څوک منصور عباس ته ورغی او هغه ته یې خپله مهارت وښووه:
یوه ستن یې وغورځوله، په دېوال کې بنده شوه. بله یې وغورځوله، د لومړۍ ستنې په سوري کې بنده شوه او دویمه او درېیمه او څلورمه بیا د د درېیمې په سوري کې بنده شوه.
خلیفه امر وکړ چې سل درهمه ورکړي او سل دورې یې هم ووهي.
هغه ورته وویل:
زما ګناه څه ده؟
-سل درهمه دې د هنر په پاراوسل دورې دې د دې بې ګټې هنر لپاره!

*******

۹-دوو هنرمندانو سره واده وکړ. پر سبا یې ناوې وکیل ته ولاړه چې د پرېږدې(طلاق) په اړه ترې مشوره واخلي.
وکیل ورته وویل:
- څه خبره ده؟
ستا سې خو یوازې یوه ورځ د واده کېږي !
ښځې په ښاخ ور غبرګه کړه:
هغه په کلیسا کې خپل نوم زما تر نوم غټ ولیکه !
*******

په ابادان کې د داریوش دغږلوبه وه، پخپله داریوش څلورم دریځ وګاټه.
*******

یو سړی په خوب کې لیدل چې خوانښې یې د کمپیوټر په لوبه کې مړه شوه. کله چې راوینښ شو، هغه یې ژوندۍ ولیده.
نو ویې ویل:
هېر مې شول، هغه (سیو ) کړم.

*******

جاپانیانو یو مېږي ته په( ۱۵ )کلونو کې ورزده کړل
چې په لرګو ډوډۍ وخوري. خلک پرې راټول وه او د
هغه ننداره یې کوله، یو سړی را تیر شو او مېږی یې
په لغته مړ کړ او ویې ویل:
تاسو له دې نه وېرېږئ !

*******

یو انځورګر چې یوه لوڅه موډله یې په کور کې
انځوروله، نن یې زړه کار ته نه کېده ،نو موډلې ته
یې وویل :
نن ځان مه لوڅوه ، باړه(اجوره ) به دې همدا سې
درکړم او د یوې تودې قهوې وړاندیز یې ورته وکړ.
هغې قهوه راوړه او پر خبرو وه چې ور وټکېد. هغه
ولیده چې مېرمن یې ده ، نو چیغې یې کړې زما
مېرمن ده.
- هله ژر کوه، خپل کالي وباسه !

*******

# کار، کازي او پولیسس

یو سړی پر لاره روان وو ،دوو غلو پرې برید وکړ، جیب یې ولټاوه او( ۴۸ )سنتنه یې پکې پیدا کړل . هغه یې په څپېړه وواهه او ور ته یې وویل:
تا د دې لږو پیسو لپاره دومره ټینګار کاوه؟
هغه ورته ویل:
نه د د غو(۵۰۰ )ډالرو لپاره چې زما په بوټو کې دي !
*******
کازي یو تورن ته وویل:
ته د ځان دفاع کوې ؟
هغه ویل:
هوصاییبه ! ته مې دا لاسونه یو وار خوشې کړه !
*******

يو غل د يو سر ته توپنچه نيولى وه او هغه ته يې ويل:
پيسې را كړه، كه نه ماغزه به دې درې وړې كړم.
هغه ورته وويل:
بې له ماغزونه په دې نړۍ كې ژوند كېدون لري، خو نه بې پيسو !

*******

دوو زندانيانو يو بل سره د خورما په مندكو ويشتل.
بنديوان ورباندې غږ كړ:
- څه كوئ؟
- هستوي جنګ دئ !

*******

يو غل يو كور ته ورغى او د كور د مېرمنې غاړې ته يې توپنچه ونيوله او ورته يې وويل:
- ستا نوم څه شى دى؟
- اليزابت.
- تا نه وژنم زما د مور نوم اليزابت دى !

بیا یې سړي ته وویل: ستا نوم څه دئ ؟
- زما نوم فلیپ دئ، خو دوستان را ته الیزابت وایي.
*******

درې تنه یو ه کور ته د غلا لپاره تللي ول، د کور خاوند را ویښ شو ، هغوی په ګونیو ننوتل. د کور خاوند یو ه ګونۍ په لغته ووهله، د غوزانو غږ ترې پورته شو ، له دویمې د وچې ډوډۍ، خو له دریمې څه غږ و نه خوت. د کور خاوند څو وارې هغه په لغته ووهله، خو د غږ پرځای ترې غله سر را پورته کړ او ویې ویل:
زه اوړه یم او اوړه غږ نه لري !
*******

کازي: تا پلپوټ( شکایت ) کړی چې د غه سړي تا ته لوده ویلي دي؟
- هو دا رښتیاده !
- نو ولي دې پلپوټ کړی دی؟
*******

د سمندري غلو د بيرغ مانا څه ده؟
- دلته د کوټې ښوروا خوړل بند دي !
*******

د کور خاوند:
ـ مرسته، مرسته... !
غل: اړتيا نشته، ما څو تنه له ځان سره راوستي دي !
*******
د يو يهود دوکان سوی وو ، د بيمې د کمپنۍ استازی
راغی او ورته يې وويل:
که تاسو ليکلی وای د توپان غوندې زيان يې رسولی
دی، ډېرې پيسې مو درکولې !
هغه وپوښتل:
توپان څنګه لګېږي ؟
*******

درې تنه يو اېټالييي، بل هسپانيي او بل يهود
اعدامېدل. د وروستنۍ غوښتنې په توګه يوه ويل:

زه پیزا غواړم !
دویم ویل:
زه بیلا غواړم !
یهود ویل:
زه ځمکنی توتان غواړم !
ـ د ځمکني توتانو وخت نه دی.
ـخیر دی زه انتظار کوم !
*******

یو سړی خپل کشیش ته ورغی او ورته یې و ویل: زه ګناهګار یم، ما په دویمه نړیواله جګړه کې یو یهود په خپله اتیک (چت خونه ) کې پټ کړی وو، دا ګناه نه ده؟
ـنه، دا ښه کار دی دا خو لوربینه ده !
ـ مګر ما هغه دې ته چمتو کړی دی چې د ورځې یو ډالر کرایه راکړي !
ـبیا دې هم ښه کار کړی دی !
ـډیره مننه !

ـ خو یوه بله پوښتنه دا چې اوس هغه ته ووایم، جنګ پای ته رسېدلی دی؟

*******

پولیسو یو نشه يي پسې اخېستی وو ، هغه ځان اوبو ته واچاوه، پولیس ورته وویل:

را پورته شه !

هغه ورته ویل :

دا بر خه د سمندري پولیسو ده !

*******

دا سړی جېب شوکی دی، د کانګرو جېب يې وواهه !

*******

په نیاوو الۍ ( عدالت ) کې وکیل موو ي( شاهد ) ته وویل:

ته ښه او ویښیار سړی يې !

هغه وویل:

که ما سوګند نه وای اخیستی چې دروغ نه وایم، ما هم دا ویل !

*******

پر یو مجرم شل کاله بند وخوت او ور ته وویل شول، په هرو لسو کلو کې مو یوه غوښتنه منل کېږي ! هغه وویل:

زه کتابونه غواړم !

بل وویل:

ما ته پنځه زره کارټنه سګریټ راکړئ !

لس کاله وروسته یوه بیا کتابونه وغوښتل او هغه بل وویل:

ما ته زر درجنه اورلګیت را کړئ !

*******

یو سړي مړک کړی وو. کازي ور ته په ګاز سره د وژنې سزا ور وټاکله. پولیسو هغه یوې بې چته خونې ته بوت مجرم وخندل: دا خونه خو چت نه لري.

پولیسو ورته ویل:

خانده مه ، له پاسه درباندې د ګاز ډبه را غورځوو !

*******

یو نفر کبان نیول، پولیس ورته وویل:

څه کوې؟

ویل یې:

کبان نیسم !

پولیس ورته وویل:

- دلته کبان نیول بند دي !

هغه په بیباکی ورته وویل:

- دلته خو نه دي لیکل شوي !

پولیس په غوسه ورته وویل:

- له اکواریومه راکښته شه !

*******

یو خپل زوی په پولیس اکاډمۍ کې واچوه، یوچا

ترې وپوښتل:

ولی یې په انجینري یا طب پوهنځي کې یې نه اچوې؟

هغه ورته وویل:

زه غواړم، تر راوتلو و روسته یې یو امنیتي حوزه پرانېزم !

*******

یولاروي له یوه ترهګره وپوښتل:
څو بجې دی ؟
هغه ورته وویل:
کله چې دا ودانۍ والوځي، نو هله به اته بجې وي !

*******

یو سړی جګړې ته تللی وو او یوه اوونۍ وروسته بیرته په وینو لړلی راغی او ویل یې؟
په یوه لاس کې مې توره وه، په بل کې خنجر، نو د ښته اړ وم، په غاښو وجنګېږم !

*******

دوه ګاډي سره ټکر شول، پولیس له یوه وپوښتل:
د چا ګناه وه؟

یو په بې خبری سره وویل:
-زه ویده وم صیب !
*******

یو سړي په غله پسې ځغاستل او ترې مخکې شو.
*******

یو سړي ویل:
په زندان کې دوه ډوله ځورونې وې، یوه رواني او بله پڅني(جسمي) په پڅني کې یې په شلاخو وهلو او په رواني کې یې تودې تودې ډوډۍ پر مېخ را ځړولې !
*******

یو تن پولیس ته تیلفون وکړ:
زما د ګاډي کلچ، ګېر ،برېک او شتېرېنګ غلا شوی دی !
هغه ورته وویل:
و رشه د ګاډي په مخ سیټ کې کښېنه !
*******

پولیس یو ګاډیوان ته:
اته تنه دي سپاره کړیياو تېز هم ځې، ولې؟
هغه ورته په زړه سوی وویل:
ځکه د هغو درو تنو سا بندېږي چې په بانټ کې دي.
*******

یو غل د وړلو هیڅ شی پیدا نه کړ، نو د ماشومانو مشق یې ورخراب کړ چې سبا په ښوونځي کې وهل وخوري.
*******

دوه تنه اعدامېدل. یو رېږدېده، هغه بل ورته وویل:
ولې، ستا لکه چې لومړی وار دی ؟
*******

په عراق کې یو امریکایي سرتېري ته وویل شول ترنهو بجو وروسته دې که څوک ولید، وله یې !
هغه په اوو بجو یو وویشت.

کومندان په جدی توګه ترې وپوښتل:
-ولې ؟
هغه ورته وویل:
-هغه په داسې پټې پسې ګرځېد چې تر نهو بجو پورې
یې نه شوه پیدا کولای !
*******

یو پلار او زوی غلا کوله، پولیس ورته وویل:
ودرېږه د خره زو !
د هغه زوی ودرېد او پلار ته یې وویل:
زه یې وپېژندم !
*******

د لاس انجلس پولیس یو( برېښنا )څراغ (ګروپ) په
څو تنو بدلوي ؟
-اتو تنو !
یو یې بدلوي او اووه بیا هغه زوږ ټوټه ټوټه کوي !
*******

جک بیني مشهور ویلون ږغونکی د ویلون د پوښ سره د سپیني ماښې مخي ته ورغی یو پولیس هغه تلاشی کړ د ویلون په پوښ کې یو ماشیندار پروت وو.
پولیس ناري کړه:
آه !زه وو پرېدم، ماویل چې ویلون دی !
*******

له ګیګ نه خپل اکوردیون په ټولبکس کې هېر شوی وو او سهار چې موټر ته ورغی، د ګاډي ښیښه یې ماته شوی وه ، خو هلته یې له اکوردین سره دوه نور هم پراته ول.
*******

د یو سړي کره غل ورغلی وو. سباته د پولیسو چوڼۍ ته ورغی چې له غله نه یو ه پوښتنه وکړي.
پولیسو ورته وویل:
بیا په محاکمه کې تري وپوښته !
هغه ویل:

زه غوارم، پوه شوم ،هغه څنګه بې له دې چې زما مېرمن ویښه شي، کور ته ننوت.

*******

پولیس یو هلک د ګاډي د چتکتیا په ګناه ونیو او هغه ته یې ویل چې مشر راشي، زندان ته به یې واچوي.

هلک همدا پوښتل:

هغه کله راځی؟

پولیس ورته ویل:

د هغه د لور واده دی او له واده وروسته راځي !

هلک ورته په ژړا وویل:

زه زوم یم !

*******

# پوځیواله

یو جنرال د کتنې په ترځ کې له یوه سرتېري وپوښتل:
ستا پر اوږه څه شی دی؟
-دا ټوپک دی سایب !
-دا ټوپک نه دی، دا ستا ناموس دی !
بیا یې له یوه بله وپوښتل:
دا ستا پر اوږه څه شی دی؟
-سایب دا د سنک ناموس دی !
*******

یو تن( ایف بي ای )ته تیلفون وکړ چې زموږ ګاونډي
ډېر لرګي راوړي دي او ګومان کوم، په لرګو کې یې
پوډر پټ کړي دي !

هغه وه، چې د ( اېف بي ای ) پولیس راغلل او ټول لرګی یې ور مات کړل.
مازیګر یې ګاونډي زنګ ور وواهه او ور ته یې و ویل:
ګوره ما ستا ټول لرګي مات کړه، اوس ستا وار دی چې زما باغ را واړوې !
*******

یو نفر ماجت(مسجد ) جوړ کړ او په هغه یې یو اعلان ولیکی: د سهار لمونځ یو رکات بې اودسه.
*******

یو د ریاست کاندید د تربیون شا ته ودرید او ویې ویل:
موږ باید له سوسیالېزم ،امپریالېزم، فاشېزم، رادیکالېزم نه ژغورتیا و مومو !
یو سپین ږیري ناري کړه:
روماتېزم پاتې شو سایب !
*******

په یو ه ټولپوښتنه کې د نړۍ له خلکو وپوښتل شول:
ستاسې له انده په نورو هیوادونو کې د خوراکی
توکو رښتینی کمی څنګه ده ؟
افریقا ویل: خوراکتوکي څه دي ؟
اسیا ویل: اند څه دی؟
ختیزې اروپا ویل: رښتینی څه ته وایي؟
لویدیزې اروپاویل: کمی څه ؟
امریکا ویل :نور هېوادونه څه شی دي ؟
*******

ستا توپیرله غوا سره څه دی ؟
مه خوابدی کېږه !
هیڅ توپیر نه لري.
*******

یو سړي له لاندې څخه دبرج سرته نارې کړه :
حسنه !را کښېوځه ،کور دې اوراخیستی ، ښځه او
بچي دې مړه شول !

يو له پاسه را خوسې شو چې پښنځه پوړه لاندې راغی، له ځان سره یې وویل:
زه خو ښځه نه لرم.چې پنځه پوړه نور لاندې راغی،
ویل یې: زه خو کور نه لرم.چې پرمځکه ولوید ، ناري یې کړه: زه خو حسن نه یم !

*******

یو بل ته ویل:
ته دولس امامان پېژنې ؟
هغه ویل:
- هو !
- د هغو نومونه واخله؟
داسي یې نه پېژنم ،خو که یې ووینم، نو هرو مرو یې پېژنم !

*******

یوې ځېړندلې د بېلو بېلو نژادو پر مغزو څېړنه کوله.
د یو امریکا یي سر یې واز کړ،عجیب او غریب لینونه او چیفونه وه هغه یې بیرته بند کړ؛ بیا یې د یو

جاپاني سر پرانېست، هلته هم همدا اکر(حال) وو. بیا یې د یو تورکي سر خلاص کړ، هلته یو لین وو.
هغو ویل: راځئ دا پرې کړو، وګورو، که کوم شی خراب شو، بیرته به هغه ونښلوو. دا کار یې وکړ او د تورک غوږونه ولوېدل

*******

ګورینګ او هېتلر دراديو برلین پر انتن ناست وه.
هېتلر ویل: زه غواړم، داسي کار وکړم چې د برلین خلک هک پک کړم!
ګورینګ ورته وویل:
-ځان وغورځوه!

*******

دوه المانه کله چې سره جلا شول، یو سرتیری بل ته ویل:
ترجنګ وروسته څه کوې؟
- غواړم المان وګورم!
- ښه تر غرمې وروسته څه کوې؟

*******

زما شل کاله مخکې له دوو تنو سره شخړه وشوه !
- هغه مهال دوه کسه هم ډېر وه همداسې نه ده !

*******

یو سړي په خوب کې احمدي نژاد له جینفرلوپز سره
ګوري چې چکر وهي.
هغه وایي: خدایه دده عذاب ما ته راکړه !
یو غږ اوري:
دا د جینفر عذاب دی !

*******

رضا غوښتل سبا په اولمپیک کې زر کیلو پورته
کړي. د شپې ورته د ابو الفضل ټېلېفون راغی چې
ویل یې: پر ما یې مه شمېره !

*******

یوه ښځه مړه شوه انکر او منکر ترې وپوښتل:
ړومبی امام څوک دی؟

هغې ورته وویل:

-خمیني !

او سبا یې ترې بیا د اخبره وپوښتله:

دې ورته وویل :

-علی !

هغو ورته وویل:

ولې دې پرون خمیني وویل ؟

ما ویل چې د مرستې له کومیټې راغلي یاست !

*******

بوش وویل: د عراق په جنګ کې ۱۴ میلیونه عربان او یوه ښکلې فرانسۍ وژل شوی ده .خبریالانو یو وار شور جوړ کړ:

ولې مو دا ښکلې فرانسۍ ووژله؟

*******

ولې پاچا کولای شي، په (۱۴ )کلنیۍ کې باچا شي، خو په دې منګ کې واده نه شي کولای ؟

ځکه د هېوادا اداره دیوې ښځې ترادارې ګرانه ده.

*******

ناصر الدین شاه قاجار د دربار له خلکو وپوښتل:
پلمه تر ګناه بتره را مانا کړئ !
بیا یې خپل ناټکي(ټوکمار) ته وویل:
دا مانا که !
له دې خبرې نه څو ورځې تېرې شوې. یو ورځ ناټکی
د ونو په منځ کې پاچا ته پټ شو چې پاچا راغی، هغه
ورټوپ کړ او مچ یې کړ.
پاچا ورته وویل:
دا څه کوې؟
هغه ورته وویل:
مال چې شهی(ملکه) ده !
پاچا د هغه د وژلو امر ورکړ.
ناټکي ورته وویل:
دا وه ، تر ګناه بتره پلمه او مانا یې !
*******

د خلکو ترغندنې له مخه د هغو په بوټونو کې یو
مایل ولاړ شه او ترغندنې وروسته بیا
له بوټونو نه یو مایل لرې ګرځه !
*******

له ناپوه سره شخړه مه کوه، هغه دې خپلې کچې ته
کاږي او بیا دې په ازمېښت لاندې کوي !
*******

کار ښه شی دی ، خو چې ستا سرباري وخت و نه
نیسي !
*******

مینه هغه ګاونډۍ ښځه ده، چې مېړه یې په کور کې
نه وي !
*******

شارون له څو خرو سره عکس واخیست، بوش ترې
وپوښتل:

کوم یو یې ته یې ؟

*******

ښوونکي له یوه بډای او یوه بروزله شاګردنه وپوښتل:
تاسو په رخصتۍ کې چېرې ولاړ است؟
د بډای زوی ورته ویل:
موږ امریکا ته ولاړو !
او دې بل و ویل، موږ پارک ته ولاړو پلار مې تیزونه اچول او موږ ورته خندل !

*******

-شرلوک هېملر له خپل مرستیال سره سارا ته تللی وو او هلته یې د شپې خېمه ووهله. نیمه شپه یې خپل مرستیال له خوبه راکښېنوه او ور ته یې وویل:
-څه وینې؟
- میلینونه ستوري !
-دا څه مانا لري؟

- له روحاني پلوه دا مانا چې خدای (ج) لوی دی او مورږ ډېر کوښښ کوو او د ستورپوهنې له مخې دا چې د زهرې ستوری د مشتري په برج کې دی، نو باید دوبی اوسي...
هېملر ورته وویل:
ته هم پوره لوده یې، پایله یې دا چې چا زمونږ خېمه غلا کړې ده !
*******

ستالین چې مړ کېده، دو پاکټه یې خروسچوف ته ورکړه او ور ته یې وویل:
یو هغه مهال پرانېزه چې درباندی سخته شوه او بل هله بیرته کړه چې نور کار له کاره تېر شو !
کله چې پر خروسچوف سخته شوه، یو پاکټ یې پرانیست، په هغه کې لیکل شوي وه:
ټوله ګناه پر پخواني دولت واچوه !
او کله چې ورته نور چاره پاتې نه شوه، نو دویم پاکټ یې پرانېست، پکې لیکلي ول:

اوس نو ته هم لیک ولیکه !

*******

بهاؤالواعظین وایي، د مشروطه په لومړیو کې چې کله کور ته ولاړم ، زموږ کره یوه نجلۍ او یوه زړه ښځه مېلمنې راغلی وې، سپین سرې رانه وپوښتل:
مشروطه څه شی دی ؟
ما ورته وویل:
- نوی قوانین دي !
- لکه څه شی؟
ما ورته په ټوکه وویل:
لکه د ځوانو نجونو ودول له سپینږیرو او د زړو ودول له ځوانانو سره !
نجلۍ وویل:
دا څه ګټه لري ؟
زړې وویل:
یه بې حیا ، ته اوس دونه شوې یې چې پر مشروطه قانون ګوته نیسې !

*******

یو بډای سړی یو نو موړ ویلون غږونکی مېلمه کړ او ورته یې وویل:
هیله ده چې ویلون دې هم درسره راوړې !
هغه ورته وویل:
زما ویلون ډوډۍ نه خوري !
*******

رېګن او ګورباچوف پر یوه غره باندې د سیالۍ لوبه جوړه کړې وه چې د خپلو سرتېرو اېلتیا وښیي. لومړی رېګن ناري کړل:
جاکسن !
یو سرتېری راووت.
رېګن ورته وویل:
مخامخ ځه !
هغه ته، ترڅو یوه ګړنګ ته ورسید.
رېګن ورته و ویل :
ځان واچوه !

هغه دا کار ونه کړ.
نو امروشو او هغه یې بندی کړ.یو خبریال ترې
وپوښتل:
ولې دې ځان ونه غورځاوه؟
هغه په اسکیرلی ږغ وویل:
- اخیر ماینه او بچي لرم!
بیا د گورباچوف وار شو، هغه ناري کړل:
دیمیتری!
یو عسکر د نورو عسکرو له منځه را مخ ته شو.
گورباچوف ورته وویل:
مخامخ ځه!
هغه مخامخ ولاړ یو کړنگ ته ورسید.
گورباچوف ورته وویل:
ځان وغورځوه!
هغه ځان وغورځاوه، خو له ښه بخته هلته د یوې ونې
په څانگه کې بند شو او له مړینې وژغورل شو.
له هغه نه یې وپوښتل:
تا ولې ځان وِغورځاوه؟

هغه په اسکیرلی ږغ وویل:
اخیر ماینه او بچي لرم.
*******

هېتلر چې پر پال يې ګروهه درلوده، نو د هرې سکالو لپاره به يې لومړی له خپل پالي سره سلاکوله. یوه ورځ يې ترې وپوښتل:
زه پر کومه ورځ مرم ؟
هغه ورته وویل:
د یهودانو د اختر پر ورځ ( مانا داچې هره ورځ ته ومرې، هغه ورځ به د یهودانو اختر وي ! )
*******
رییس جمهور د اقتصاد له وزیره وپوښتل:
راتلونکی کال څرنګه دی؟
هغه ورته وویل:
منځنی، تر سږکال بد او تر بل راتلونکي کال نه ښه !
*******

د شپې درې بجې رادیو ته تیلفون راغی:

-آیا خامینه یې ویده دئ ؟
- شاید !
- رفسنجاني ویده دئ ؟
-شاید !
-آیا خاتمي ویده دئ ؟
-شاید.
نو ورواچوه یوه هندي سندره چې مزې وکړو !

*******

بوش وايي احمدي نژاد عجب سړی دی، په هغه تفکر چې دی یې لري، ولې کلیسا ته نه راځي؟

*******

هېتلر یو ه لېونتون ته ورغی، ټولو لېونیانو ورته سلام وکړ.
یوه ته یې وکتل:
-تا ولي سلام وا نه چاوه؟
-زه لېونی نه یم سیب !

*******

یو امریکایی یو انګریز او ایرانی په یوه الوتکه کې ناست وه چې مخ پر غور ځېدو وه. ژغور ډله راغله او ویل یې هر چا که زموږ ځواب سم راکړ، هغه ژغورو ! له امریکایي نه یې وپوښتل: د امریکا د هېواد مشر نوم وو ایه؟

او له انګریزه یې وپوښتل:

د انګلستان پایتخت کوم ځای دی؟

بیا یې له ایراني نه وپوښتل:

پر ۱۹۲۲ کال د یوګندا هېواد مشر څوک وو؟

*******

د امریکا هېواد مشر او د برتانیا سروزیر د درېیمی جګړې په اړه خبرې کولې، دامریکا هېواد مشر وویل:

هلته به لس میلیونه خلک او یو د غاښو ډاکټر مړه کړو، نو هیڅوک به د هغه لس میلیونو په اړه خبرې ونه کړي.

*******

له بهلول دانا سره چا بې ادبي وکړه او ور ته يې وويل:
زما خاوره او اوبه سره همداسې اخښلي دي !
بهلول ورته وويل:
دا ښه ده، خو وهل يې لږ خوړلي دي.
*******

بوش د شودو نرخ لس په سلو کې ډير کړ، ځکه غواوو ورته رايې ورکړې وې.
*******

احمدي نژاد چې لاس انجلس ته ورغی، مېرمنې ته يې وويل:
زه شهيد شوم !
- ولې دا جنت نه دی ؟
*******

د امريکا د هېواد مشرۍ نوماند وويل:

موږ سره ټول برابر یو ، دا ښکلي سپین پوستکي،
مردارخور تور پوستکي اووحشي بوین
سورپوستان...
*******

درې تنود امریکا ضد نارې وهلې، پولیسو ونیول.
لومړی ویل:
ما ویل، پارس خلیج د ربګن ګور دی.
پولیسو هغه مړ کړ.
بل چې ویریدلی وو ویل:
ما ویل په پارس خلیج کې باید کبنیونه تر سره
شی !
او دریم ویل:
ما ویل ،پارس خلیج دې ډمبر شي !
*******

دایران ښاروالۍ امر وکړ چې هره کمپنی دې د ایران
ویی د کمپنۍ له نامه سره وتړي.
خو بیک ایران دا ونه منل.

*******

- ستا پيزا اته ټوټې کړم که شپږ؟
- نه، اته ټوټې زه کله خوړای شم !

*******

دوه تنه يوې ځوکۍ ته نومول وه، دواړو يو ډول پوښتنې ځواب کړې وې، خو په اوومه کې يې يوه ليکلي وه:
زه نه پوهېږم.
دويم ليکلي وه:
زه هم.
نو لومړی يې غوره شو.

*******

روسان په څو تنو يو څراغ بدلوي؟
دا يو پوځي راز دی !

*******

کلبنتن بغداد ته تلی وو ، هلته د صدام پر څوکۍ
درې ناست وې. صدام یوې ته ګوته ورووړه، یو سوک
راغی کلنتن یې پر خوله وواهه، صدام پر خندا شو.
بیا یې بلې ته لاس ورووړ، یوه لغته راغله، کلنتن
یې د پښو په منځ کې وواهه او صدام ورته له خندا
ځان مړ کړ. بیا یې دریمې ته ووهله، یوه لغته راغله
او کلبنتن یې په نس کې وواهه او صدام ورته خندل.
کله چې صدام و امریکا ته ولاړ، هلته هم د کلبنتن پر
څوکۍ درې ناستې وې، یوه ته لاس ورووړ، صدام د
ځایه ونه ښوریدی او کلنتن ځان د خندا مړ کړ بیا یې
بلې ناستې او بلې ته ګوته ورووړه، خو صدام له
ځایه هم ونه ښوریږ او کلنتن ځان له خندا مړ کړ او په
پای کې صدام وویل:
زه نو اوس عراق ته ځم.
کلبنتن وپوښتل:
کوم عراق ته؟

*******

بوش دوزخ ته تللی وو ، هلته اور وو او
ناري یې کړې:
مرسته، هله اور دی !

*******

یو سړی د خپل خره تر سیوري لاندې ویده وو. پاچا
ترهغه ځایه تېرېده، ور ته یې وویل:
یه سړیه !دلته څه کوې؟
ستا ترسیوري لاندې ناست یم !

*******

بوش ترمسلمانېدو وروسته له احمدي نژاده
وپوښتل:
ته دا اتوم بم پربږده، دا صیغه څه ته وایي؟

*******

يو چينايي متل وايي: كه يو ايراني د الوتكې له لوېدو او د ګاډي له ټكره ژوندى را ووځي او هم له بدې هوا نه مړ نه شي، نو هرومرو له خوشالۍ مري !

*******

كرزي وليدل چې د يوه وزير په خوله كې كوم شى دى، نو ورته يې وويل:

خبر نه يې، په غونډه كې خوړل بند دي !

هغه ورته وويل:

ما يوه كښته په خوله كې واچوله، مټې دغونډې تر پايه هغه پسته شي،نو هله يې بيا خورم !

*******

يو سړى مړ شوى وو ، مېرمنې چې وليد ،توره دريشي يې كړې وه ،نو كفن والا ته يې وويل:

زه غواړم  د ده دريشي بدله کړې او شنه دريشي ورواغوندې !
هغه ويل همدا اوس يې په پينځو دقيقو کې هغه بيرته راوست، ښځې چې هغه وليد ، نو هغه ته يې ډالۍ ورکړه.
هغه ورته وويل، څه غټ کار نه وو. هلته يوې بلې غوښتل مېړه ته يې توره دريشي ورواغوندم، ما يې يوازې سرونه سره بدل کړل !
******

مامور په ډيره غوسه راغی او کلينتن ته يې وويل:
دا يوبل بېل راغلی دی !
- د څه شي بېل دی؟
- دګب(جنين ) د زيانونې !
-تحويل يې کړه ، باک نشته !
*******

درو هلکانو کلينتن له ډوبېدو وژغوره. هغه ورته وويل:

وایاست، هر څه چې غواړئ، زه یې درکوم
یوه ورته وویل:
زه یوه ورزشي کښتۍ غواړم !
او هغه بل وویل:
زه یو ډبډبی( موټر سایکل ) غواړم !
او دریيم و ویل:
زه د ګوډانو یوه څوکۍ غواړم !
کلېنټن ورته وکتل او و یې وویل:
ته خو روغ یې، د ګوډانو څوکۍ څه کوې ؟
هغه ورته وویل :
که زما پلار خبر شي چې ما ته له ډوبیدو ژغورلی
یې، پښې راماتوي !
*******

هېلري دوه ځانې شوې وه، نو کلېنټن ته یې تېلېفون
وکړ:
تامتېینګي (حرامزاده ) امیدواره کړم !
کلېنټن ورته وویل :

-وبښئ، تاسو څوک خبرې کوئ؟

*******

# روږدي او نشه يي

دوه نشه يان يو رستورانت ته ولاړل، هلته يې تشناب
و نه موند ، نو د بار شا ته ولاړل. يوه بل ته ويل: د دغه
بار کموډ د سرو زرو دی !
هغه ورسره نه منله ، نو ګرا (شرط) يې سره وتاړه.
درې سره بار ته راغله ، د بار له خاوند ه يې وپوښتل:
آيا ستاسو کموډ د سرو زرو نه دی ؟
د بار خاوند ناري کړه:
براون ، هغه کسان چې بيګاه يې ستا په ساکسوفون
کې متيازې کړې وې، راغلي دي !
*******

يو تن چې د شرابو ګيلاس يې په لاس کې وو، نارې کړل:

دا ټول وکيلان کفن کښ دي !

يو شرابي راغی او ور ته يې وويل:

ولې دي زه ورټلم ؟

- ته وکيل يې ؟

- يا زه کفن کښ يم !

*******

په ننداريې(تياتر) کې يو سړی پر څلور څوکيو غځېدلی او ژګېروي يې وو. منېجر ګارسون ته وويل:

دا سړی نشه دی. که هغه سم نه کښيني، له تياتره يې وباسئ !

ګارسون له هغه وپوښتل:

- له کوم ځايه راغلی يې؟

- له بالکونه !

*******

يو نشه يي په لمانځه کې ويل:

الحمد والله خدایه ! سر دي نه په درد وم،
ولاضالین !
*******

یو کشیش یو رستوران ته راغی، ګارسون ترې
وپوښتل:
تاسو چای څښئ؟
-نه !
- قهوه درته راوړم؟
- نه !
بیا یې ورو په غوږ کې ورته وویل:
ویسکي له اوبو سره راوړم؟
هغه له غوسې په زوره وویل:
-نه، اوبه نه څښم !
*******

یو شرابي توري سترګې پر سترګو کړې وې.
سمندر ته ودرېد ، ناري یې کړه:
- هو ، دا څومره شراب دي !

*******

-یو هلک بار ته ولاړ او بار والا ته یې وویل:
زه به تا ته د پولنډیانو په اړه یوه ښه ټوکه ووایم !
بار والا ور ته وکتل اوورو یې وویل:
له دې مخکې چې ټوکه ووایې، زه باید تا ته ووایم:
زه پولنډی یم؛ زما دوه ځوکیوال هم پولنډیان دي؛
او زیاتره بیوپاران مو هم پولنډیان دي !
هلک وویل:
ښه نو، ورو به یې ووایم !

*******

نیوټرون یو بار ته ورغی او له بار والا یې وپوښتل:
د یو بیر چارج څومره دی؟
هغه ورته وویل:
ستا لپاره، نه چارج !

*******

يو نابلد سړی پر يو بار ورننوت او دوه پيکه وبسکی يې راوغوښتل:
او بيا يې په وارختايي له بار والا نه وپوښتل:
د پنګوين ونه تر څومره لوړېږي؟
باروالا لاس تر مځکې دوه فوټه لوړ ونيو او ويې ويل: -
- دومره !
- ته ډاډه يې؟
- هو،
لانت دې وي، ما سوچ کاوه چې کشيشه مې تر ګاډي لاندې کړې ده !
*******

يوه راهبه په پارک کې روانه وه، دوه پوډريان يې وليدل چې يوه بل ته پيچکاري وهله، دې ورته وويل:
دا بد کار دی، له دې نه ايدز پيدا کېږي !
هغو ورته وويل:
اند ېښنه مه کوه، موږ پوښ (کاندم) په جيب کې لرو !
*******

دوه چرسیانو یو بل ته ویل:

کومه ورځ جمعه ده ؟

-یا به شنبه وي یا یکشنبه !

*******

# د ژویو نړۍ

یو دوکاندار پر یو سړي د توتي پر ځای بوم (کونګ ) وپلوره.
سبا ته ورغی او دوکاندار ته یې وویل:
توتي دې خبرې نه کوي، خو زه چې خبرې کوم ښه په ځیر ځیر راته ګوري !

*******

یو سړی چې نوې یې انګرېزي زده کړې وه، د هاټ ډاګ «سورکړي سپي» (برګر ) دوکان ته ورغی.
دوکاندار ورته یو دانه راوړ.
ده چې هغه بیرته کړ، له ځان سره یې ورو وویل:

عجب بد چانس دی، ماته یې بیا کوم ځای ورسېد !
*******

د چرګې له دوو بچوړو سره مینه وه چې غټ شول
دواړه چرګان ول.
*******

یو چا سپی پلوره.
یوه له سپي نه و پوښتل:
ته خوشاله یې ؟
سپي ورته وویل:
ما ته سم خواړه نه راکوي، ما د شپې په ګاراج کې
ویده کوي، ما یو وار د اتلانتیک په سمندرکې
لامبو وکړه...
هغه سړي یې خاوند ته وویل:
دا سپی ښې خبرې کوي، ولې یې دا سې ارزانه
پلورې؟
هغه ورته وویل:
هغه ټول درواغ وایي !

*******

زما سپی هره ورځ ما ته ورځپاڼه راوړي !

- زه پوهېږم.

څنګه پوهېږې؟

سپي مې را ته ویلي دي !

*******

یو تن سوی (خرګوش) پلوره. یو ترې و پوښتل:

دا بیزو په څو ده ؟

هغه ورته وویل:

دا بیزو نه ده، سوی دی !

هغه ویل:

زه له سوی نه پوښتنه کوم.

*******

یو چونګښه له یو ازیوالي نه ستومانه شوې وه. یو پالي(فالبین) ورته وویل:

ډیر ژر به یوه ښکلې نجلۍ ستا پر هر اندام لاس تېر کړي او ستا یو یو اندام به ګوري.
- چېرې، د خوب په خونه کې؟
- نه، د ازمېښتځای(لابراتوار) پر مېز باندې!

*******

دوو کسانو په یوه ځنګله کې یو یږ ولید چې ورپسې راته. یوه خپل د ځغاستې بوټونه په پښو کړل. هغه بل ورته وویل:
څه سوچ کوې ، چې تر هغه ته تېز ځغلې؟
هغه ورته وویل:
نه، ترتا !

*******

لومړی مېلمنه حشره اغلې اجانۍ د شاتو مچۍ ده.

*******

دوه نفره په ځنګله کې روان وه. يويې پر زمري د ټوپک ډز وکړ ،خو هغه خطا شو او ورپسې يې ورودانګل.

هغه يو چې ټک يې کړی وو ، ونې ته وخوت او هغه بل ته يې وويل:

راځه را وخېژه !

هغه وويل:

ما خو ډز نه دی کړی !

*******

يو چرګ والګي نيولی وو.ځکه له کنګل شوې چرګې يې مچه اخېستې وه.

*******

يوې غروې( تمساح ) ګدايی کوله او ويل يې:

له ما خوارکي چنجي سره مرسته وکړئ !

*******

پیشو موږک ته په خو پته ناسته وه او په انګریزي یې ناري کړل:
موږکه ! راوځه
چې موږک راووت، پیشو هغه ونیو او له ځان سره یې وویل: د بهرنۍ ژبې زده کړه هم ګټه لري.
*******

هغه ژوی چې ټول خلک یې پېژني، پسه دی، ځکه هر چا ته وایي: با با !
*******

د امازون په ځنګله کې یوه لوبه وه چې که هر چا ډېر ژوي ښکار ول، جایزه ورکول کېده.
امریکا یانو لس سویان او پنځه هوسیانې ښکار کړې ؛ انګریزانو بیا شل هوسیانې او پنځه سویان ښکار کړل او تورکانو یوازې دوه سویان ښکار کړل.
له تورکانو یې وپوښتل:
تاسو نور شیان نه دي ښکار کړي ؟
-هو موږ ډېر( ډونټ شوټ )ښکار کړل .

-دا بیا څه ډول ژوي دي؟
-هغو ناريې وهلې: ډونټ شوټ ،ډونټ شوټ... .
*******

دیوې ښځې نوم حمار وو. چا ورته وويل:
دا د خره مانا ورکوي، بدل يې کړه ! هغې خپل نوم
يابو کېښووه.
هغه ورته وويل :
لږ ښه شو ، خو له غوجلې څخه نه يې را وتلې.
*******

چې پر يوه منه غابښ ولګوې او يو پوره چنجی ووينې
ډېر خوا شینی کیږې که نیم ؟
*******

یوې چونګښې یوې ښځې ته وويل: که ته ما مچ کړې،
زه به انسان شم، پر ما جادو شوی دی. هغې چونګښه
په لاسکخوړه( دستکول ) کې وا چوله او
ويې وويل:

د ژبورې چونګښې بیه تر انسان لوړه ده !

*******

یو سړي او میرمنې یې په لارې کې یو پیشپړانګ ولید چې یخ نیولی وو او بد بوی یې کاوه. ګاډي ته یې را پورته کړ. دا چې پیشپړانګ له یخه رېږدېده، نو میړه مېرمنې ته یې وویل:

هغه په لمن کې وپېچه !

مېرمنې یې ورته وویل:

- او بوی یې؟

خیر که مړ شو، مړ شو !

*******

یو چرګ د بام پر سر ولاړ وو چې د چرګو یو ډک ګاډی یې ولید، نو رو چرګانو ته یې نارې کړل:

هغه دي، نجونې راغلې !

*******

یو چا کیشپ(شمشتۍ) ته وویل:
- دروا غ وو ایه !
هغه وویل:
زه ځغلم !
*******

که چوغکه له انسانه و نه وېرېده، نو پوه شه، هغه انسان ته د انسان په سترګو نه ګوري.
*******

خرې ته یو چا وویل: غوږونه دې اوږده دي.
هغې په موسکا وویل: هره ښکلې یو ویار(عیب) لري.
*******

لېوه د الیل او بلیل د کور دروازه وټکوله، هغو کډه کړې وه.
*******

چې د تاووس ناز ،د ګیدړې چل ول او د غروې (تمساح) اوښکې وي، نو ښځې ته څه اړتیا شته.

*******

چرګې ته یې وویل:
ولې هګۍ نه اچوې؟
هغې ورته وویل:
چرګ وایي د دو روپو هګۍ لپاره دې اندام مه خرابوه !

*******

ته خر، آس، پسه ،اوښ....نه لرې.

*******

یو مېږي بل ته په غوسه وویل: زه پر یو مېږي اووه کاله مین وم ،نن پوه شوم ،هغه د چایو شمه وه.

*******

یوې چرګې او چرګ له یوه دوکان نه هګۍ وغوښتلې.
-ولې تا سې هګۍ نه اچوئ؟
-نه، موږ کوژده یو.

*******

یو آس سرکس ته ورغی د سرکس سروال ته یې وویل:
ما ته کار راکړه !
هغه ورته وویل:
د اور د کړۍ له منځه دانګلای شې؟
- نه !
پر یوه پښه نڅا کولای شې ؟
-نه !
-کوم ګوندلرې؟
-نه !
کوم بل کار دې زده دی ؟
- هو زه خبرې کوم.

*******

ګیدړې یوه کارغه ته وویل:
څو مره ښه غږ لرې؟
هغې ورته وویل:
نو کښېنه یوه غزله درتهووایم.
*******

یو سړي بل ته وویل:
زما سپی چې کور ته راشي دروازه ټکوي.
هغه بل ورته وویل:
ولې د کور کیلۍ نه لري؟
*******

د وربۍ( پنګوین )یوازینۍ هیله دا ده چې رنګه عکس واخلي.
*******

یو ورځ یو سړی چنجي ته په ځیر ځیر کتل.

هغه ورته وويل:

تر اوسه دي ښامار نه دی لیدلی؟

*******

یو چا له چرګه وپوښتل:
ستا لویه غوښتنه څه ده؟
هغه ویل:
غوارم چې یخچال ته ننوځم او هلته لوڅې چرګې
ووینم.
*******

یو چا خره ته وویل:
ځان دې کندې ته وغورځوه !
هغه ورته وویل: نه زه خر یم !
*******

جان خپل ملګری ببل ولید چې له خپل سپي سره د
شطرنج لوبه کوي.

جان وپوښتل:

څه کوې؟

له سپي سره شطرنج کوم.

-مسخرې مه کوه !تا تر اوسه اوریدلي دي چې سپی شطرنج وکړي؟

-زه په د ې نه پوهېږم ،خو ما تر اوسه په څلورو لوبو کې درې وارې مات کړی دی.

*******

دوه اسمان څکالي(خفاش ) چې په یو غار کې له پښو ځوړند وه، یوه بل ته ویل:

- دا مهال تازه وینه څه ښه خوند کوي ؟

- د شپې په دې وخت کې کله تازه وینه پیدا کېږي؟

- زه یې پیدا کوم !

نیم ګړی، وروسته هغه اسمان څکالی چې خوله یې له وینو ډکه وه راغی.
هغه بل په هېښتیا وویل:
- هو !دا وینه دې چېرې وموندله؟
- دا مخامخ ونه وینې؟
- هو !
-خو ما هغه ونه لیده.
*******

یو تن چې نوی د افریکا له سفاري پارک نه راغلی وو، دخپل سفرکیسه یې داسې کوله:
یو ورځ ځنګله ته تللی وم. تر شا مې یو شورماشور تر غوږ شو ،چې شا ته مې وکتل، یو غټ زمری مې ولید چې زما خوا ته راته.
یوه سانیه وچ کلک ودرېدم او بیا مې ترې منډه کړه او زمري هم را پسې راودانګل، چې زما پر اوږې راوخوت، وښویېد ، نو ما وکولای شول، ډېر ترې ترمخه شم. یوه سانیه وروسته مې بیا د هغه سا په خپل

څټ کې و نګېرله، مګر له ښه مرغه چې بیا وښویېد او زه ترې ترمخه شوم. خو یوه سانیه وروسته مې دیوه چا د کور دروازې ته ځان ورساوه. هغه پر ما دوې پښې واچولې، خو دریم وار بیا هم وښویېد او ماورپسې د کور دروازه وتړله.

-که زه ستا پر ځای وای، پتلون مې ډکاوه !

- نو ته څه سوچ کوې، زمری په څه شي و ښویېد !

*******

ولې بیزو له ونې نه راولویده؟

ـ ځکه هغه مړه وه.

- دویمه بیزو ولې مړه شوه؟

- ځکه هغه په لومړۍ پورې تړلې وه !

- دریمه بیزو څنګه مړه شوه؟

- دواړې بیزوګانې پر هغې راولویدې

*******

- ولې کربوشا (سنجاب) له ونې را ولوید ؟

- هغه د بیزو چمونه کوله.

*******

یو غټ پندا (یږ وژمه ژوی ) رستورانت ته ولاړ او د ډوډۍ پرما ښنت یې ورکړ. د ډوډۍ له خوړلو وروسته یې د ویتر ماغزه په ټوپک باد باد کړه.
د رستورانت مېنېجر راغی او پندا ته یې چې د وتلو په حال کې وو ، په لوړ ږغ وویل:
- تا ته وایم، زما ویتر دې ولې مړ کړ؟
څه سوچ کوې، چېرې به ولاړ شي؟
پندا ورته وویل:
زه پندا یم په ډکشنرۍ کې یې وګوره !
چې پندا ولاړه، مېنېجر ډېکشینري راواخیستله او هلته یې تر پندا لاندې وکتل چې لیکل شوي ول:
ببر و ښسته لرونکی او تیور ژوی د ی چې په چین کې ژوند کوي او پاڼې اولښتې خوري.
*******

دوې سويې او يوه چرګه د سړک پر غاړه ناستې وې او خبرې يې سره کولې. چرګې غوښتل، د سړک هغه خوا ووينې خو وېرېده چې چلوونکی يې ونه وهي.
نو سويې ورته سلاورکړه که ګاډی درباندې راغی، ځراغونو ته يې ګوره د هغو په منځ ځای کې لکه ګېند ځان ګردی کړه چې ګاډی تېر شو، بيا هخوا ته تېره شه !
لکه دا ډول يوه سويه تېره شوه، د ګاډي تر ځراغو لاندې يې ځان ګردی کړ چې ګاډی تېر شو، هغه هم ها بلې خوا ته ور تېره شوه.
بيا دويمه سويه هم تېره شوه. پنځه دقيقې وروسته چرګې هم هوډ وکړو، خو متره لا نه وه تلې چې د ګاډي ځراغونه يې وليدل او په منځ کې يې ځان ور ګردی کړ، ګاډی پرې وخوت او تېر شو.
يوې سويې بلې ته وويل:
بيچاره بدمرغه وه، تا تر اوسه کله هم (ريليانت روبين )پر دې سړک ليدلی دی !
*******

د کموپلاژ(سیال غولونې) په کړاو(تمرین) کې یو سپاهي لکه ونه پښه پرځای ولاړوو او نابېره یې چغه کړه. جنرال ورغی او ور ته یې وویل:
- ستا له چغې او ټوپ سره د ټولې فرقې ژوند له خطر سره مخامخ کېدای شي !
سپاهي ورته وویل:
صایب ! ببننه غواړم. تا ولیدل چې زه داسې وچ پښه پرځای ولاړ وم ، کوترې را باندې کښېناستلې، بیا هم زما یو اندام و نه ښورید او کله چې هغو راباندې متیازې وکړې، زه ونه خوځېدم ، خو کله چې دوه کربوشایان د پتلانه په پایڅه را ننوتل او د هغو دا خبره مې واورېده چې ویل یې:
راځه یو اوس وخورو او بل به ژمي ته پرېږدو ، نو نابېره مې له خولې چغه ووته !
*******

يو ورځ پيل پر مېږيانو پښه ايښې وه، مېږيان ورباندې له ډېر پر غزه را ټول شول. پيل ځان وڅنډه ټول مېږيان لاندې توی شول. يوازې يو مېږی پرې پاتې شو، ټولو په يوه غږ ورنارې کړې:
زندی يې کړه، له ستوني يې ونيسه!

*******

دوه مچان پر يوه پک (تاس) سر ناست وه، يوه ويل:
اوبه غواړم!
دا بل ورته و ويل:
زه په دې وچه ولخه اوبې وښو کرغه کې اوبه له کومه کړم؟

*******

# ښه او بد

ویل یې ویده شه ! ویده شوم. ویل یې خلاص یې کړه !خلاص مې کړ، ویل یې له زغمه کار واخله ! زغم مې هم وکړ او وینې راغلې. دا نو لومړی وار وو چې غاښ مې وا ېست.

*******

نیمه شپه وه، ورغلم پښې مې و رببیرته کړې ،تیونه مې ورومو ښل او غوا مې ولوشله.

*******

لاس مې د هغې پر ملا راوګرځاوه، شونډې مې د هغې پر خوله کېښوولې، څه چې مې خولې ته راغلل، ومې ځنبل او چغه مې کړه، را باندې ګرانه يې کوکاکولا !

*******

پرون رانغی، وړمه ورځ رانغی، څومره بد قبض يې ته !

*******

ډېر را باندې ګران يې يوه ورځ به در پسې درشم او داسې ځای ته به دې بوځم چې د بل چا لاس در ونه رسيږي(عزراييل) !

*******

تېغ هغه تيز دی چې له خپلې لارې بېلارې شوی وي.

*******

دکوژدې پړاو داسې دی چې دوڅرخه (بایسکل)
لرې، خو پرې سپرېدای نه شې !
*******

د یوې ښځې مېړه تر واده درې اوونۍ وروسته مړ شو.
یو سړي بل ته ویل:
ښه شو، ډېر کړاو یې و نه لید.
*******

ښځه جنګ پیلوي او نارینه یې پر مخ وړي.
*******

هغه وخت چې دی کښېکاږم ،هغه وخت چې شوندان
دې پر سوري ږدم او وبه دې ګوتم- پوهېږې، ته
څومره خوږ انار یې !
*******

په لاس کې یې ونیسه، سوري ته یې ور برابر کړه، ورو یې دننه کړه ، مخ اوشا ته کوه یې -څومره خوند کوي غوږ ټومبنی !

*******

تور(جال) د هغه سوریو ټولګه ده چې په تارونو سره نښلول کېږي.

*******

د سینې له منځه تېرېږي او په سوري کې ننوځي ژغور ملاوستنی (حفاظتی کمربند ) !

*******

ښځه یې پرانیزي او نارینه یې پکې اچوي- په بانک کې پیسې.

*******

دومره تنګه ده چې خیرې نه شي دا جرابه.

*******

سر يې لوند کړم، بيا يې نيغ کړم، او بيا يې ور
چوخ(چوغ) کړم -تار په ستن کې.

*******

هر وخت چې ما وويني، پرتوګ وباسي او زه خپلې
اوبه در باندې توی کړم !- ګډوه

*******

وچ ځې -لوند راځې، کلک ځې- سست راځې،
بيرنګه ځې- سور راځې، سوړ ځې -تود راځې !
-چای

*******

په ياد دې دي چې ستا پتلون مې وا ېست، د اوبو يو
نلکه مې ما در منډله او تا چغې وهلې –
د پيچکارۍ خاطره !

*******

هغه څه شی دی چې مخ او ځټ ته ځی او سپین ځګ را باسی؟

ربځ(مسواک ) !

*******

د جنت دروازې پرانېستي دي -د هوايي چلند سازمان.

*******

د دو سترګو په کچ را باندې ګرانه یې ---ړنده مږه

*******

کول پېنځه ډوله دي: لوبې کول،جګول ، شوخي کول، ملنډې وهل او بد سوچ کول.

*******

ځانوژلي ته ځان وژنه دا مانا لری چې خدای(ج) ته یي وښیي چې ته یې کولای نه شې او زه یې کولای شم !

*******

که پیسو خبرې کولای شوې، ویلي به یې ول:
د خدای په امان !

*******

که مینه خوب لیدل دي، نو واده ګړیال دی.

*******

ما ورکړه ،ته یې هم ورکړه !، ما وړیا ورکړه ! ته یې هم
وړیاورکړه !لږ درد لري، خو ثواب هم لري
- وینه !

*******

پر غاړه دې ژبه تېروم پر سینه دې خوله لګوم او پر
ورانه دې غاښ لګوم- د کنتاکي چرګه !

*******

# سرېخوره بلا

سرېخورو یو سرې نیولی وو ،
یوه ترې وپوښتل :
تاسو پر سرې څه کوئ؟
هغو ویل:
د انسان له پوستکي نه کښتې جوړوو !
نیول شوی سرې چاره ځانته ونیوله او هغو ته یې
وویل:
نژدې مه راځئ، که نه ستاسو کښتی سوری کوم !
*******

د سړیخورو په سیمه کې ورځ پر ورځ د انسان د مغزو ساندویچ کوشنی کېده، په پای کې یوه پلپوټ (شکایت)وکړ:
ورځ پر ورځ مو دا ساندویچونه ولې کوشني کېږي؟
هغو ورته وویل:
پخوا له یوه مغزه دوه ساندویچه جوړېدل، اوس لس هم یو ساندویچ نه پوره کوي !

*******

په افریقا کې سړیخورو دوه تنه نیولي وه او په جلا جلا دېګو کې یې اچولي وه او ایشول یې.
یو خندل.
- ولې خاندې؟
- دا نیمه ګړۍ مې درې واره د دوی په ښوروا کې ګنګې وکړه.

*******

-یوه الوتکه د سړیخورو په کلي کې ولویدله، پیلوټ وویل، اوس بد مرغه شوم !

يو غږ راغی: د قبيلې مشر په ډبره وولـه !
هغه دا کا روکړ او مشر مړ شو او ټولو سړيخورو په ده پسې پر منډه شول.
بل غږ راغی: اوس بد مرغه شوې !
*******

يو تن اوريدلی وه چې په يوه ټاپو کې سړيخور شته دي، له يو نه يې وپوښتل:
دلته سړيخور شته ؟
هغه ورته وويل: نه وروستنی هغه مو پرون وخوړ.
*******

درې تنه په يوه ټا پو کې اسير ول، دوی يو څراغ پيدا کړ، هغه يې وموښه او يو ديو څنې راووت او دوی ته يې وويل:
-څه غواړئ؟
يوه ويل، زه غواړم، کورته ولاړ شم ! هغه کورته ولاړ
او بل ويل زه هم غواړم، کورته ولاړ شم، هغه هم کورته ولاړ.

دربیم ویل زما له دوی سره ښه سات تیر وو ، زه
غوارم، دوی بیرته راشي !
*******

یو سړیخور له خپل زوی سره روان وو ، یوه ډنګره
ښځه یې ولیده، زوی یې وویل:
- پلاره ! راځه دا وخورو !
- دا خوند نه کوی زویه !
بیا یې یو چاغه ښځه ولیده.
پلاره ، دا نه خورو !
-دا ډیره وازګه لري !
بیا یې یوه ښکلی ښځه ولیده
- پلاره، دا نه خورو !
-دا کور ته بیایو ، مور دې وخوري !
*******

دوه تورک د سړیخورو په کلي کې ولویدل.
هغو له خوشالۍ ناري کړی:
انسان، انسان !

یوه تورکي بل ته وویل:
چې د خوړلو خبره شوه بیا انسان شولو.
*******

شیطان یو کلي ته ورغی، ټول خلک ترې پټ شول خو یو تن کرار ناست وو او خپل کتاب یې لوست. د شیطان له غوربو نه توښ ووت او هغه ته یې وویل:
ته پوهېږې، زه څوک یم، زه شیطان یم !
هغه ورته په بیباکی وویل:
زه پوهیږم ما (۴۶ )کاله کېږي، ستا له خور سره واده کړی دی !
*******

دوه سړیخواره یو رستورانت ته ورغلل او ګارسون ته یې وویل: یو سیخ کباب !
*******

یو سړیخور بل ته ویل:

ستا خور مې پخ کړی ده
هغه بل ورته ویل:
زما له خپلې خور نه بد راځی !
هغه بل ورته وویل:
نو یوازې پټاټې وخوره !

*******

ته خبر یې، ولې هغه شاګرد د ښوونځي پر دروازه ځوړند شوی دی؟ ځکه هغه پر ښوونکي کوچ مښلی ول !

*******

# فیلسوفانه خبرې

-د ساده ګانو ځواک په غتهډله کې دی، هغوی له پامه مه غورځوه !

*******

-څوک په ګیلاس مه وله، له سوکه کار اخله !.

*******

-لاس پر خپلو کوشنیانو مه پورته کوه چې بې دفاع کېږي !

*******

ـ هڅه مه کوه، بد خویه پیشو له کوره وباسي !

*******

ـ که غواړې، ټولې ستونزې هېرې کړې، تنګ بوټونه پر پښو کوه !

*******

ـ چې ډېر سر ټکوي ،هغه ډېر ژوند کوي !

*******

ـ خبرې ارزانه دي، خو نه د وکیل.

*******

ـ که غواړی چې لېوه دې ور ونه ټکوي، ښه لاره دا ده، پسه په باغ کې پرېږده !

*******

ـ د تیلو لپاره برمه کول ستومانوونکي دي.

*******

ـ د جوړ جاړي سړک تل تر بیا رغاونې لاندې دی.

*******

ـ چې ستړدي، هغه خلک دي.

*******

ـ څو ورځې کوتره او څو ورځې بیا پڅۍ (مجسمه) اوسه!

*******

# ګډووډ

یو سړی ته چا وویل :که په سمندرکې دربانديې کوسه(شارک ) راشي، څه کوې ؟

- ونې ته خیژم !

-په سمندرکې کله ونه شته !

-زه ناچاریم ، ناچار، ډېر ناچار... !

*******

يو سړی د خولۍ سره سرګراوه، يو چا ورته وويل:
خولۍ دې هيسته كه، بيا سر وګروه !
هغه ورته وويل:
ستا چې شا كا كوی پرتوګ باسی بيا هغه ګروې.
*******

د تورک زوی چې تر اختر وروسته پيدا شي،وربانديې
د پست فطرت نوم ږدي.
*******

دوه تنه سره چوپ ناست ول، ګړی دوه وروسته يوه
وړانديز وكړ، اوس به د كومې بلې سكالو په پار
چوپ شو !
*******

سره برابرې ليكې( موازي خطونه) سره نه يو ځای
كېږي، خو د لوړو چاروا كو په امر.
*******

دا پزل(د يو انځور ټوټې ) مې په دوه کاله کې جوړ کړ !
-ولې يې دومره وخت ونيو ؟
ما لا وختي جوړ کړی وو ، خو دلته يې راليکلي دي: تر **۵**-**۳** کلنو لپاره.

*******

يو ګاډي له چوغکې سره ټکر وکړ، ګاډيوان هغه بېسده چوغکه په پنجره کې واچوله، کله چې چوغکه پر هوښ را غله، چغه يې کړه:
وې، ګاډی مړ شو !

*******

زوروره رسنۍ کومه ده ؟
زري ترور !

*******

يو ايراني امام رضا ته په دعا کې وويل:

ما ته زر تومنه راکړه !
او بل ویل: ما ته یو تویوتا ګاډی راکړه !
دې یوه هغه بل ته زر تومنه ورکړل او ور ته یې وویل:
ـ ته ورځه چې د رضا پام زما خوا ته شي !

*******

له یوه تورکه چې اووه کاله یې په تهران کې تېر کړی
ول، چاوپوښتل:
ولې دي پارسي نه ده زده کړې ؟
هغه ورته وویل:
زه خو څه حضرت سلیمان نه یم چې د هر ژوي ژبه زده
کړم !

*******

ابو منصور له یوه فقیه وپوښتل:
که په یوه سارا کې د اوبو یو ډنډ وموموم او غواړم
غسل وکړم، مخ کومي خوا ته واړوم؟
هغه ورته وویل:
د خپلو کالو خوا ته !

*******

په اردبیل ښار کې د یوې ډوډۍ عکس داسې
ځړېده چې تا به ویل پرزړه یې غشی خوړلی دی.

*******

ما قرانکریم ختم کړ!
-لوی که کوشنی؟

*******

درې اصفهان مېشتو سره یو اړ(شرط) تړلی وو چې
درېواړه به په اوبو کې غوټه وهي، هرچا که ژر له
اوبو سر را پورته کړ، هغه دوه نور به مېلمانه کوي.
په پای کې درې سره تراوبو لاندې ومړل.

*******

یو سړی ځاه ته لویدلی وو، خلکو رسۍ ور
وغورځوله، هغه رسۍ په خپله غاړه کې واچوله.

*******

په دوزخ کې لمبسې(دوسیې) ورکې شوې وې، ټول خوشاله ول.

*******

پالي:سبا دې مېره مري !
مېرمن:- په دې زه هم پوهېږم،خو دا ووایه چې زه نیول کېږم ،که نه ؟

*******

یو سړي یو پېرۍ ولید او ترې یې وغوښتل:
زما مېرمن ساده کړه چې زما دروغ ومني.
چې کور ته راغی، مېرمن یې سړی شوی وو !

*******

درې تورکانو په یوه اورګاډي پسې ځغاستل، دوه ور پورته شول او یو پاته شو.
هغه پاته شوي په خندا وویل:
زه مېلمه یم او هغوی مې بدرګه کوله.

*******

-يو سړی له خوبه راکښېناست، ښه توده ورځ وه. د هوا پوهنې دوتر ته يې تيلفون وکړ:
ډيره مننه !

*******

ولې دې سر طاس (پک ) دی؟
باد مې خپل لاسي(مصنوعي ) وښتان يووړه.

*******

يو سړی د ځاه پر غاړه ولاړ وو او ۱۳، ۱۳ نارې يې وهلی يوه ترې پوښتل:
څه خبره ده؟
هغه يې هم ځاه ته وا چاوه او نارې يې کړی۱۴، ۱۴ !

*******

د يوه شته ځيز(موجود ) نوم واخله؟
ـ يخی
ـ يخی خو نه شته دی !

ـنو ولې يې پر هر دوکان ليکلي دي: يخی شته دی؟
*******

-ولي مړ شوې؟
ـ شودې مې خوړلې
ـ ولې زهرجنې وې ؟
ـ نه، غوا را باندې کښيناسته !
*******

يو سارايي مکې ته تلی وو. هلته يې د شيطان ويشتنې ډبرې خلاصې شوې، نو په کنځلو يې پيل وکړ.
*******

يو تورک د يوه چا کره ورغی، کوربه ورته ست وکړ:
ډوډۍ وخوره، بيا ولاړ شه !
هغه ومنله. بيا يې تر چايوا ارام وروسته د شپې ډوډۍ وخوړله اوويده شو. سهار ورته بيا د کور څښتن وويل:
اوس سبانارې راوړم، لږ تم شه !

هغه ورته وویل:
اوس ځم ، مېرمن او اوبچیان مې راته په ګاډي کې
سترګې پرلار دي !
*******

یو چا تیلفون وکړ، دا ۲۲۲۲۲ دی ؟
ـهو !
- نو ژر تیلفون عاجل تیلېفون ته تیلېفون وکړه، زما
ګوته د تیلېفون په دوو کې بنده ده !
*******

یوه کب نیوونکي شعر وایه:
اوبه مې تر زنګنو رسیدلې دي !
یوه ورنارې کړل:
لږ مخې ته ورشه چې د شعر قافیه دې سمه شي !
*******

د سړی کیلي په ګاډي کې پاتې شوه، مېرمن او بچیان یې دوې ګړۍ په ګاډي کې پاتې شول ، ترڅو یې له کوره بله کیلي راوړه.

*******

د یو سړس قضایي لمونځونه ډیر ول، نو تر مسلې(جای نماز ) لاندې یې کاربن پېپر کېښود.

*******

یو سړی له دیوال سره ولګېد ، ویې ویل:

-وبښه !

*******

له یوتورکه چا و پوښتل:

خپله ترخه خاطره ووایه ؟

هغه ورته وویل:

یو هلک مې ښخاوه، لاسونه او پښې غورځولې !

*******

قزويني ټټي( توالت ) ته وايي: د زور خونه
*******

تورکان ولې په روغبړ کې دواړه لاسونه سره ورکوي؟
- ځکه نه پوهېږي، کوم لاس يې ښی دی !
*******

يو سړی بل ته وويل: په حج کې مې ډېرې ډبرې
وخوړې، خو په پای کې مې شيطان مچ کړ.
*******

يو سړی په جنګغالي کې له يوه سرتېري وپوښتل:
وينه څه رنګ لري؟
هغه ورته وويل:
-ډېر کوه !
بيا هغه ترې وپوښتل:
دا وينه څه رنګ ده ؟
-ډېر کوه !
هغه بيا ورته وويل:

که یې رنګ ژیړ وي، نو زه تېږي شوی یم !

*******

یو له خدایه خپه وو ، پر دوکان یې لیکلي وه:
د ځینو په نوم.

*******

له ورا چې ما ولیدې، ماویل، ته خر یې !
هغه بل ورته وویل:
ماچې ته ولیدې ما ویل، ته انسان یې !

*******

که چا د ګاډي ور کومې ښځې ته پرانېست
یا یې ګاډی نوی دی، یا ښځه !

*******

یو اصفهاني له یوې کېلې سره ناست وو چې خلک و
انګېري، هغه کېله خوړلې ده.

*******

که د ابادان خلک ځوروې، ویې تړه او بندري پټه(کسېټ) ورواچوه !
*******

کولر نه غواړې ؟
-نه.
- هغو چې رانیولی دی، هغه یې هم بهر ایښی دی.
*******

یو سړی په ځاه کې ولوید او شکر یې وایست چې ځاه سوری نه وو.
*******

-موسی په قزوین کې لکړه وغورځوله او په چورت کې وو ،هغه څنګه را پورته کړي.
*******

که دی یخ وشي څه کوې ؟

- تودنیٔ (بخاریٔ) ته نژدې کېږم !
-که دې ډېر یخ وشو ؟
- ښه ورنژدې کېږم !
- که دې نور هم پسې یخ وشو ؟
- ورپورې ځان ښلوم !
- او که بیادې هم ساړه کېدل؟
- بیا نو اړوځم ،ویې لګوم !

*******

ولې د ډبلیو پر ځای لیکي: ډبلیو ډبلیوډبلیو ؟
د ښه ترا ټینګوالي لپاره !

*******

عرب او تورک یوه پاکستانیٔ لوبه کوله چې
د سرکوزي په غار کې خوړسکو( بد بویئ ) ته څومره
ټینګېدای شي؟
عرب پکې تر یوې ګړیٔ تېرولو وروسته په داسې حال
کې چې لاس یې پزې ته نیولی وو ،را ووت او و یل یې:
اوف بد بوی دی !

تورک دوې پکې دوې تیرې کړې،
ده هم لاس پزې ته نیولی را ووت او ویې و یل:
اوف څه بد بوی دی !
او چې پاکستانی ننوت، لس دقیقې وروسته سرکوزی
لاس پزې ته نیولی را ووت او و یل یې:
اوخ، څه بد بوی دی !

*******

اسراف: له ږیرې سره د غړوندي( نیکټایي ) تړلو ته
وایي.

*******

سل په سل کې دروغ خبرې:
ته را باندې ګرانه یې؛
یو سایز ټولو ته فیټ دی. ؛
دا رنګ له تا سره لګي؛
زه ستا پر خوا یم؛
ستا فکس نه دی را رسیدلی !

*******

عیسی څو واري ناري کړې: پیتر پیتر پیتر !
پیتر ترغِونډی لاندې وو .هغه په ماتو لاسو او پښو او ټوک ټوک بدن ځان ور ورساوه، هغه ورته ویل:
پیتره، له دې ځایه ستا سو کور ښکاري !
*******

زما په ښوروا کې مږه خزدکه ده !
هو ، د هغې لامبو نه ده زده !
*******

ستا ګوته زما په ښوروا کې ده !
هو ، هغه تو ده نه ده !
*******
یو تن مړ شو ، خو جنت هغه نه مانه، ځکه هغه ټکس نه وو ور کړی، نو ورته یې وویل:
ته باید له یوې بد رنګې ښځې سره په یوه خونه کې واچول شي !

هغه یو بل ملګري ولید چې یوه ښکلې نجلۍ ورسره وه، ترې یې پوښتل:
ته نېکمرغه یې، تا کوم ښه کار کړی چې دا سې ښه شی دی پر برخه شوې ده ؟
هغه ورته وویل: نه پوهېږم کله چې ورسره یو ازې کېږم هغه وایي: مړ دې وي ټکس !

*******

په بې ارزښته شیانو کې باید سپما وشي.

*******

-د (ات) نښې مانا څه ده ؟
یانې سپلنی دې شم!

*******

-د لندن په کوم ځای کې کښیني؟
هر ځای چې ستړی شم !

*******

په عربو کې یوه لنډه لستوڼي کالي اغوستې وه،
یو عرب بل ته:
دی پزه په څه شي پاکوي؟
*******

یو بلوڅ دریشي کړې وه، پرلاره روان وو او هر
یوه به ورته ویل:
- سلام بلوڅ اغا !
ده له یوه وپوښتل:
ته له څه نه پوهېږې، زه بلوڅ یم ؟
هغه ورته وویل:
تا کورتۍ په پتلانه کې ننه ایستلې ده.
*******

علی ! ګړۍ دې کار کوي ؟
- نه صایب !
- هله، هلکه هغه ته کار ورپیدا کړه !
*******

-یوه بل ته تو پنچه نیولې وه او ورته ویل:
که دي غږ وکړ په لغته دې وهم !
*******

یو سړی د ناجو په ونه کې ناست وو ، چا ترې
وپوښتل:
څه کوې ؟
- توت خورم !
د ناجو په به ونه کې توت خوری؟
- هو ،توت له جیبه راباسم او خورم یې !
*******

- یو اصفهاني د ګاونډي په برېښنا ځان وژنه
وکړه.
*******

-یو اباداني رشت ته ولاړ ، هلته په رستورانت
کې یې چاکو پرمېز جګ کړ اوویې و یل:

-ډوډۍ خورم او پیسې نه درکوم !
بله ورځ یو رشتی ابادان ته ولاړ او هلته په رستورانت کې یې چاکو پرمېز کښېښووه.
د ده له چاکو سره سل نور چاکوګان پر مېز جګ شول
رشتی وویل:
زه ډوډۍ نه خورم پیسې ورکوم !
*******

ځلورو سرو چې د پسه پوستکی یې اغوستی وو غوښتل یې له سرحد نه د پسونو په رمه کې تېر شي. برید سات (کارمند )نارې کړې:
ځلور ابادانیان دې را ووځي.
دوی راووتل.
یوه له کارمنده و پوښتل:
ته له څه نه پوه شوی چې موږ ابادانیان یو ؟
هغه ورته وویل :
اسانه !پسونه عینکی نه په سترګو کوي !
*******

یو تایلنډي، یو امریکایي او یو تورک د ونو په
پرې کولو کې سیالي کوله. تایلنډي په یوه
ګړۍ کې( ۸۰ ) او امریکایي(۲۰ ) او تورک ( **۵۹** )
ونې اره کړې.
نو تایلنډ ي لومړی دریځ و ګاټه ، امریکایې
دویم او تورکي دریېم.
تایلنډي له خوشالۍ بربښنا آره چالانه کړه .
تورک په آریانۍ وپوښتل:
-آه ! دا چالانیږي هم !
*******

پوهیږې چې کوربچه (توشکه ) ترګنډلو وروسته
ولې په لښتو وهي ؟
له دې لپاره چې په راتلونکې کې حال ونه وایي !
*******

رشتی د خوب څراغ ته د پیښو لووی(شاهد )
وایي.

*******

بهروز د خیرات سندوک ته ډبرې واچولې. چاترې وپوښتل:
دا څه کوې ؟
هغه ځواب ورکړ :
له فلسطینانو سره مرسته کوم !
*******

-د قزوین پولیس: د پتلانه ملاوستنی ټینګ تړئ چې د روغتیا تضمین مووشي !
*******

یو مسیحي د مسلمانانو په هدیره کې ښخ شوی وو او میرمنې یې هر ورځ هغه په خوب لیدی چې وایی:
هر سهار دوی پر ما غږ کوي، هله غله پلوري ته ورشه، ته پټ او موږ لوڅ یو !
*******

-یو نوی مړی په هدیره کې ناست وو. یو چا ترې وپوښتل:
څه خبره ده؟
هغه ورته وویل:
د قبر د لومړۍ ورځې پوښتنې ورکې شوې ،موږ ته یې وویل:
تاسو بهر ووځئ، موږ نورې جوړوو.
*******

-یو ورځ یو تورک یوه ښاپېرۍ ولیده، هغې ته یې وویل:
له ما سره واده کوې؟
هغې ورته وویل:
زه انسانه نه یم !
ده ورته وویل:
ته سوچ کوې زه انسان یم؟
*******

-که غواړې، یو اصفهانی وځوروې ، د برېښنا پر
خاده یې وتړه او ورته ووایه:
په هغه بله کوڅه کې خیرات دی !
*******

ایرانیان څرنګه پېژنې ؟
نیکر یې راداره وي ، سرو پی(شیریخ) څتې، تر
هرغړې وروسته د خوږوبي(نوشابې) بوتل ته
ګوري.
د دروازې مخې ته ولاړ وي او تا ته وایي: راځه !
*******

-یو سړي یو بل سړی په څپېړه وواهه.
هغه ورته وویل:
زه دې رښتیا ووهلم که په ټوکو؟
- رښتیا !
- ښه شو چې زه دې په ټوکو نه یم وهلی، ځکه
اوس د ټوکو زغم نه لرم !
*******

يو سرتېرى له جنګه کورته راغى د ورور د غټې
ببرې رېږې په ليدو سره يې ترې وپوښتل:
څه پېښه ده، څوک خو نه دي مړه شوي؟
هغه ورته وويل:
-کورته درځه!
په کور کې يې د پلار رېږه هم اوږده شوې وه او له
هغه يې وپوښتل:
دا ولې څه خبره ده؟
هغه ورته وويل:
چې ته سرتېرى ته ولاړې، د رېږې ماشين دې له
ځان سره يووړ!

*******

يو عرب ته چا بم ورکړ او هغه ته يې وويل:
دا په يوه ګڼه ګوڼه کې وچوه!
هغه د ورور په واده کې وچوه.

*******

له نیوټن نه یو چا وپوښتل:
ولې دې د مڼې لوېدنې پام ځانته کړ؟
هغه وویل:
ځکه زه تر مندتې(زردالو )لاندې ناست وم !
*******

-یو ترک کتاب پلورنځي ته ورغی او ویې پوښتل:
د ترک دانا کتاب لرې؟
هغه ورته وویل:
موږ د داسې خیالي علمي کتاب نه لرو !
*******

یوه سړي له ترافیکي څراغو برېښنا غلا کړې وه،
هر دوه دقیقې وروسته یې څراغونه مړه کېدل او لګېدل.
*******

هټيوال پر دوکان ليکلي ول: علی با ماست ! حسين باماست ! حسن با ماست !

يو سړي ور ته وويل: يوازې ماست نه لرې؟

*******

-يو افغان سوچ کاوه، په لويديځ کې پيسې پر سړک پرتې دي چې له الوتکې کوزشو، دلسو ايرو نوټ يې وليد ،له ځان سره يې وويل:

نن سترې يم سبا به په راټولولو پيل وکړم.

*******

يو چا يو تورک واهه او ويل يې زه تا اکبر وژنم !

يو چا له تورکه و پوښتل:

ولي دې وهي؟

هغه و رته وويل:

خير وهي مې دې، زه اکبر نه يم !

*******

-يوه خبريال د ولسي جرګې له يو غړي وپوښتل:

تاسو تاريخي يادګارونه لرئ؟

هو، مونږ يې اوس جوړوو ! -

*******

رشتيان لېفټ‌ته د بوالي ټکسي وايي.

*******

-یو تورک مړ شو او وصیت یې وکړ

پر ما لمنځونه نه دي باندې، تش د شلو کلو د
پنځه وختو اودس تازه کول را باندې پور دي،
هغه را ادا کړئ !

*******

- یو تورک د ایران بیرغ غوښت. دوکاندار یو
بیرغ ورکړ.
هغه ورته وویل:
بل رنګ یې نه لرې؟

*******

یو سړي بل ته وویل:
ګوډ مارنینګ !
هغه ورته وویل:
مارنینګ ګوډ !
(ځکه د سلام علیکم ځواب دی، علیکم سلام)

*******

-یو تورک یو دوکان ته ورغی اودوکاندار ته یې وویل:
هګۍ نه لرې؟
-زه ورک شه تورکه !
- له څه نه پوه شوې چې زه تورک یم؟
-ته ورکشاپ ته راغلی یې !
*******

-د نیوتن د ۷ قانون پربنسټ په تشناب کې زور واهه،د جاذبې په تمه کېږه مه !
*******

دوه عربان پانسي کېدل ،دهغه یوه وروستې غوښتنه دا وه چې خپله مور ووینې اود بل وروستۍ غوښتنه دا چې، هغه بل خپله مور ونه وینې !
*******

وايي يو تورک ته يې د خره ماغزه پيوند کړل، کله چې پر سد راغی، پارسي يې ويله.

*******

يو خبريال له يوه تورکه وپوښتل:
د زلزلې په اړه دې نظر څه دی؟
- ښه ده، خو وخت يې ډير لږ دی!

*** ****

پای

*******